له مثبت پیغام سره ادبیات ۱
د ماشومانو او تنکیو ځوانانو
لهپاره ځانگړې کیسې
ACKU

# د فیل او طوطي کیسه

لیکوال: اسماعیل څپه



ACKU
د فیل او طوطي کیسه
اسماعیل څپه
پرلهپسي شمېره: ۴۰۸



# The Elephant and The Parrot

*Ismail Sapa*

فیلو، طوطي او بیزو درې واړه سهار وختي په تیاره کې له سرکس څخه ووتل او مخ په افریقا روان شول.

کله چې لمر را وخوت؛ نو په سرکس کې اوازه خپره شوه چې د سرکس درې حیوانات ورک دي. د فیلانو کورنۍ فیلو ته په تشویش کې وه؛ خو پوهېدل چې فیلو او نور ملگري يې افریقا ته روان شوي دي. د فیلو د کورنۍ تشویش هغه وخت زیات شو چې د سرکس مشر خپلو کسانو ته امر وکړ چې فیلو باید ډېره ژر پیدا کړي؛ ځکه که په دوه دریو ورځو کې پیدا نه شوه؛ نو هوا سړه ده او د واورو ورښت پیل کېږي او فیلو ممکن مړه شي. د سرکس ټولو کارکوونکو کوڅه په کوڅه ښار لټاوه او پولیسو ته يې هم احوال ورکړی و.



توانا
برنامه‌ای برای نشرکتاب، ترویج فرهنگ کتاب‌خوانی
و توسعه‌ی کتابخانه‌ها در افغانستان
ACKU Box Library Extension
Est. 1996
ISBN 978-9936-646-25-4
9 789936 646254




## ده کتاب برگزیده‌ی دومین جشنواره‌ی ادبی «توانا»

## د ادبي سیالۍ د دویم پړاو لس غوره شوي داستانونه



د لوی او بښونکي خدای په نامه

# ۱

لە مثبت پیغام سره ادبیات

د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لەپاره ځانګړې کیسې




# د فیل او طوطي کیسه

اسماعیل څپه


◆ **ایډیټر:** محب الرحمن محب

◆ **انځورګر او د پښتۍ طرحه:** عابده محمدي

◆ **د پاڼو جوړونه:** مجتبی سخيزاده

◆ **د مخونو شمېر:** ۸٦

◆ **پرلەپسې شمېره:** ٤٠٨

◆ **کچه:** ۱۳.۵ × ۲۱ سانتيمتره

◆ **چاپشمېر:** ۴۰۰۰ټوکه

◆ **خپروونکی:** په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز (ACKU)

◆ **لومړی چاپ:** ۱۳۹۸ل. (۲۰۲۰م) کابل – افغانستان

◆ **برېښنالیک(ایمیل):** publication@acku.edu.af

◆ **ویبپاڼه:** www.acku.edu.af

◆ **شابک:** ISBN: ۹۷۸-۹۹۳٦-٦٤٦-۲۵-٤

**د پښتو ژبې ارزوونکي: محمد انور وفا سمندر، صدیقالله بدر او ارش ننګیال.**

• تر نظر: د کاظم حمیدي رسا

• اجرایي شورا: عبدالوحید وفا، رشمي دانګل، فیض محمد نایاب-عطایي، بهار احمدي، عبدالستار اعظمي او محمد حامد نیازی.

• وېش: زینتالله قانت



•د چاپ حق خپروونکي لەپاره خوندي دی.

• د کتاب له مطالبو څخه ګټه اخستل یوازې د ماخذ په یادولو سره مجاز دي.

• لیکوال د کتاب منځپانګې مسوول دی. منځپانګه په الزامي توګه دACKU نظریاتو څرګندويي نه کوي.

## یادونه:

د افغانستان د معلوماتو مرکز (ACKU) د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د فکري روزنې او ماشوم ادبیاتو د پیاوړتیا په هدف، د داستان‌لیکلو دویمه ادبي سیالي ترسره کړه.
د ادبي جشنوارې ادارې، په دري او پښتو ژبو داستاني اثار ترلاسه کړل. ورپسې ترلاسه شوي اثار تر ارزونې او څېړلو وروسته د ارزوونکې کمېټې له لوري غوره شول.
د اثارو په ارزونه او غوره کولو کې، د ارزوونکو دوو خپلواکو کمېټو په دوو پړاوونو کې، داستاني اثار وارزول. ټاکل شویو ادبي معیارونو ته په پام ، هر داستاني اثر ته امتیازونه ورکړل شول.
د افغانستان د معلوماتو مرکز د لا ډېر رڼښت او شفافیت په پار، فقط د دغې ادبي سیالۍ ترسره کېدو ته زمینه برابره کړې او د داستاني اثارو په ټاکلو کې یې کوم نقش نه‌درلود.
لس داستاني اثار(پنځه په پښتو ژبه او پنځه په دري ژبه) چې د «توانا» تنکي زلمي او ماشوم داستان ادبي جشنوارې په دویم دور کې غوره شول، د ادب برخې ایډیټرانو له لوري تر ادبي سمونو، رسامۍ، او پاڼه جوړولو وروسته، خپاره شوي دي.
په ټوله کې، د ادبي جشنوارې د دویم دور له‌پاره ټول غوره شوي کتابونه ۴۰ زره ټوکه چاپ او د هېواد په ګوټ ګوټ کې وېشل کېږي.

**د ادبي جشنوارې اداره**
**د توانا پروګرام ACKU**

# د فیل او طوطي کیسه

اسماعیل څپه



# لوسی خپرکی

# د فیل او طوطي کیسه

یوه سړي ته له نیکه نه د کاردن په نوم د لوبو یو نړیوال سرکس[1] (نندارتون) په میراث پاتې و. دې سرکس/ننداري ته یې ځکه نړیوال سرکس وایه چې دوی به د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د سرکس حیوانات په کیښتیو، موټرو او ریل ګاډو کې ښار په ښار ګرځول؛ کله کله خو یې آن حیوانات په الوتکو کې له یوه هېواد څخه بل هېواد ته وړل.

په دې سرکس کې ډېرو کارکوونکو کار کاوه: چا به ځارویو ته خواړه ورکول، چا به یې ځای پاکاوه او یو شمېر کارکوونکي ښوونکي وو چې حیواناتو ته به یې ډول ډول لوبې ور زده کولې او حیواناتو به هغه لوبې په سرکس کې خلکو ته وړاندې کولې.

---

[1] سرکس ننداري او یا هغه ځای ته ویل کېږي چې بېلابېلې لوبې ننداري ته پکې وړاندې کېږي. سرکس ته صحنه او ننداره هم ویل کېږي.

کلـه سرکـس تـه تـللي یاسـت یـا مـو پـه ټلوېزیـون کـې کلـه سرکـس لیدلـی دی؟

تاسې پوهېږی چې سرکس په څو ډوله وي؟

زه بـه یـې درتـه ووایـم. سرکـس پـه دوولـس ډولـه دی: یـو ډول یـې د ماشـومانو سرکـس دی چـې د ماشـومانو لوبغـاړو لـه لـوري پکـې نـورو ماشـومانو تـه لوبـې وړانـدې کېـږي.

تاسـې خـو پـوه شـوی چـې پـه دې دوولـس ډولـه سرکسـونو کـې یـو ډول د حیواناتـو سرکـس هـم راځـي. د کاردن پـه نړیـوال سرکـس کـې هـم ډېـر حیوانـات وو؛ خـو زه تاسـې تـه د سرکـس کیسـه نـه کـوم او نـه د ټولـو حیواناتـو کیسـه کـوم؛ بلکـې زه تاسـې تـه د فیلانـو د کورنـۍ د یـوې وړې فیلـې کیسـه کـوم، چـې فیلـو نومېـده. دې تـه بـه تـل داسـې ویـل کېـدل چـې تـه یـوه فیلـه یـې، تـه لـه خـوراک او څښـاک پرتـه نـور هېـڅ نـه شـې کـولای.



فیلـو بـه همېشـه بېـکاره ګرځېـده. د سرکـس کارکوونکـو بـه فیلـو تـه ځکـه زده کـړې نـه ورکولـې چـې د سرکـس اداري یـا کارکوونکـو غوښـتل فیلـو د فیلانـو نسـل ډېـر کـړي. فیلـو بـل کـوم کار نـه درلـود؛ خـو فیلـو پـه دې ډېـره خپـه وه چـې دا ولـې فیلـه ده او ولـې فیـل نـه دی؟ کیسـه پـه دې اړه ده چـې فیلـو څنګـه د خلکـو خـبرې دروغ ثابتـې کـړي.



# دویم څپرکی

# زړه زرغونه به ځنګه وي؟



د فیلو مور په سرکس کې اخوا دېخوا کتل؛ خو د نورو فیلانو په منځ کې فیلو نه ښکارېده.
د فیلو پلار ته یې وویل: فیلو نه ښکاري چې بیا کومې خوا ته لاړه؟
د فیلو پلار ورته وویل: لږ مخکې مې دلته ولیده، ماشومانو فیلو ته خواړه ورکول.
د فیلو مور و پلار خبرې کولې چې په دې وخت کې بیزو راغله. د فیلو مور له بیزو څخه پوښتنه وکړه. فیلو دې ونه لیده؟
بیزو ورته وویل: فیلو هلته خپه ولاړه وه. ورغلم، ما ویل چې خبرې ورسره وکړم؛ خو هغې نه غوښتل چې خبرې راسره وکړي. ما خو فیلو ته هېڅ هم نه دي ویلي؛ خو هغه له ما خپه ده.
د فیلو مور لاړه، بیزوګۍ چې کوم ځای ښودلی و، فیلو هلته نه وه.
د فیلو مور، پلار او خویندو ورونو ټولو په وارخطایۍ د سرکس هر لور ته فیلو لټوله؛ ترڅو یې فیلو د تجیر شاته پیدا کړه. فیلو یوازې او خپه ولاړه وه.
پلار یې خپل خرطوم د فیلو په سر باندې ور تېر کړ او د فیلو په خوا کې ودریده، د فیلو مور ور ورړاندې شوه او له فیلو څخه یې پوښتنه وکړه: فیلو ګلې! ولې خپه یې؟
فیلو وویل: مستاچیو (بریتو) بیا وړه بیزو په متروکه (قمچینه) ووهله.
پلار یې وپوښتل: وړه بیزو یې ولې ووهله؟
فیلو مور ته خرطوم ور پورته کړ او ویې ویل: ولې وړه بیزو مجبوره ده چې د بدماشانو او خرابو خلکو تمیثل وکړي؛ بیزوګۍ نه غواړي، ولې زور مو ورسره وو؟ وړه بیزو غواړي یوه قهرمانه شي، له هر چا سره ملګرې شي او له هر چا سره مرسته وکړي؛ خو ګوره چې مستاچیو (بریتو) وهله او په زور یې پرې زده کوي.

د فیلـو پـلار وویـل: گـوره! زده کـړه ښـه شـی دی. مـوږ بایـد وخـت هسـې تېـر نـه کـړو؛ یـو څـه بایـد زده کـړو.
فیلـو مـخ را واړاوه او پـلار تـه یـې وویـل: زده کـړه ضرور ده؛ خـو د زده کوونکـي خوښـه هـم بایـد پـه نظـر کـې ونیـول شي.
د فیلـو پـلار د فیلـو مـور تـه وویـل: ښـه بـه دا وي چـې مـوږ فیلـو یـوازې پرېـږدو، ځکـه اوس فیلـو ډېـره خپـه او غوسـه ده. کلـه چـې د فیلـو زړه وغوښـتل، بیـا بـه راشي.
مـور و پـلار یـې د فیلانـو لـوی ځانگـړي ځـای تـه ولاړل. فیلـو پـه فکرونـو کـې ډوبـه ولاړه وه. لـه سرکس څخـه پنځـه نجونـې راووتـې چـې د سرکس لیـدو تـه راغلـې وې، ډېـرې خوشـحاله وې. پـه خپلـو منځونـو کـې یـې خـبرې او ټوکـې کولـې. یـوې نجلـۍ بلـې تـه وویـل: څنگـه نـن داسـې د هلکانـو پـه شـان کارونـه کـوې، لکـه لـه زیـړې زرغونـې دې چـې ټـوپ کـړي وي.
دویمې نجلۍ پوښتنه وکړه: زیړه زرغونه څه شی وي؟
نجلۍ په خندا ورته وویل: ولې هغه رنگه رنگه پټې پټې چې وي.
فیلـو خپـل غوږونـه د نجونـو خـوا تـه بـوخ کـړل، غوښـتل یـې چـې د نجونـو نـورې خـبرې هـم واوري او پـه خـبره ځـان پـوه کـړي. پـه غـوږ بوخـبـدو چـې و نـه شـوه، فیلـو د نجونـو خـوا تـه ور منـډې کـړې؛ خـو د فیلـو مخـې تـه د سرکس جالـۍ راغلـه. فیلـو نـه شـو کـولای چـې نجونـو پسـې ورشي.
فیلـو ورتـه کتـل او نجونـې لـه فیلـو څخـه لـرې شـوې. فیلـو یـې پـوره خـبرې وا نـه وریـدې.
فیلـو د سرکس د دروازې خـوا تـه ولاړه. کلـه چـې لـه دروازې څخـه ووتـه؛ نـو د نجونـو خـوا تـه یـې ور منـډې کـړې؛ خـو نجونـې پـه موټـر کـې سـپرې شـوې او ولاړې. فیلـو ډېـره خپـه شـوه چـې پـوره خـبرې یـې وا نـه وریـدې.



د نجونو خبرو د فیلو په زړه کې یوه هیله پیدا کړه او دا پوښتنه ورسره پیدا شوه چې زېړه زرغونه به څه وي او چېرته به یې پیدا کړي.
فیلو د سرکس د ډاکټر (جان) خوا ته ورغله. ډاکټر د دوا کارتنونه سمول. فیلو یې مخې ته ودرېده. ډاکټر چې فیلو ولیده، په خندا شو او ورته یې وویل: فیلو! په دې کارتنونو کې درمل دي، د خوراک څه په کې نشته. وږې شوې یې؟
فیلو خپل خرطوم پورته کړ او له ډاکټر (جان) څخه یې پوښتنه وکړه: انسانان زېړه زرغونه څه ته وايي؟
ډاکټر (جان) هېڅ هم ونه ویل، یوازې د فیلو د خرطوم په سر یې لاس را تېر کړ.
فیلو له ځان سره وویل: دا خو انسان دی، زه هم عجیبه کارونه کوم. دی زما په خبره کله پوهېږي.
فیلو له فکر کولو څخه وروسته ولاړه، د خپل پلار مخې ته ودرېده او له پلار څخه یې پوښتنه وکړه: پلار جانه! ته څنګه نر شوې؟
نورو فیلانو په کټ کټ وخندل. فیلو حیرانه شوه، بیا یې له پلار څخه پوښتنه وکړه: د نر او ښځې ترمنځ څه توپیر وي؟
پلار یې په خندا ورته ویل: فیلو ته لا وړه یې. کله چې لویه شې، بیا پوهېږې.
فیلو بیا پوښتنه وکړه: پلار جانه! زېړه زرغونه څه ته وايي او چېرته وي؟
پلار یې په خجالتۍ سره وویل: فیلو جانې! ما خو ښوونځی نه دی لوستی، زېړه زرغونه نه پېژنم.
د فیلو پلار بیا خپلې کورنۍ ته مخ ور واړاوه او له خپلې مور نه یې پوښتنه وکړه: مور جانې! لمسۍ دې وايي چې زېړه زرغونه پېژنې؟

د فیلانو ټولي ډلي په فیلو پورې وخندل.
د فیلو انا فیلو ته وویل: مور خو یې له افریقا نه دلته راوستي یو. مور د دوی په ژبه څه پوهېږو چې دوی زیږه زرغونه څه ته وایي.
پلار او انا یې ډېرې ناري ورته وکړې؛ خو فیلو روانه شوه، د سرکس تجیر ته لاړه او په فکرنو کې ډوبه شوه. یو مچ راغی، د فیلو په شا باندې کیناست. فیلو خپل خرطوم په مچ پسې وراوږد کړ. مچ د فیلو له شا پورته شو، فیلو ته یې خندل او پورته خوا ته د دوه درې مترو په اندازه چې د فیلو خرطوم نه ور سېده، د فیلو د سترګو پر وړاندې تاوېده را تاوېده. فیلو په غوسه ورته کتل. ورو ورو د فیلو خوله خلاصېده او خوشحالېده. فیلو پورته تجیر ته په حیرانۍ کتل. هغه نه پوهېده چې څنګه به یې داسې یو لوړ شی جوړ کړي وي. د فیلو ناڅاپه د تجیر په چت کې کرښو ته پام شو. مچ ترې هېر شو، د تجیر پټۍ شنې، سرې او تورې وې. یوازې زیړه پټه پکې نه وه. له دې سره ورته د سړک پر څنډه زیړه لیکه ور یاده شوه. فیلو په سړک درې څلور کرښې لیدلې وې چې د سړک یوې او بلې غاړې ته یې زیړ او په منځ کې یې سپین رنګ درلود.
فیلو پرېکړه وکړه چې له سرکس څخه د باندې ولاړه شي؛ څو د سړک په غاړه زیړه پټه پیدا کړي، دا ترې ټوپ واچوي او له فیلو څخه نر فیل جوړ شي. کله چې له سرکس څخه د باندې ووته، په ښار کې ګڼه ګوڼه نه وه. یو یو موټر به راته او له فیلو څخه به تېرېده. په موټرو کې ناستو خلکو به فیلو ته حیران حیران کتل. د موټرو له څراغونو پرته نور څراغونه هم وو. په سلو قدمۍ کې به د سړک پر غاړه پایه ولاړه وه. په سر کې یې لګیدلي څراغونه روښانه وو او ډېر ښایسته ښکارېدل. د سړک د غاړې د ونو سیوري ډېر غټ وو. د فیلو

یو وخت خپل سیوري ته پام شو چې سیوری به کله غټ شو او کله وړوکی. فیلو حیرانه وه چې دا سیوری یې ولې داسې کېږي. یو وخت څیره شوه؛ نو پوه شوه کله چې به فیلو د برق پایې ته ور نږدې شوه او گروپ به د فیلو په سر باندې شو؛ نو سیوری به یې وړوکی شو او د فیلو تر پښو لاندې به شو؛ خو کله به چې فیلو د څراغ له پایې لرې شوه؛ نو سیوری به یې غټ شو.
فیلو په ښار کې کوڅه په کوڅه گرځېده؛ څو د سرک د څنډې زېړه کرښه (پټه) پیدا کړي. له ډېرې گرځېدا وروسته یو لوی سړک ته ووتله، هلته موټر ډېر وو. د سړک په یوه څنگ کې یې زېړه پټه هم پیدا کړه. فیلو په لومړیو کې زېړې کرښې ته ډېره حیرانه وه. دا پوښتنه یې په خپل ذهن کې وساتله چې سرکس ته ولاړه شي؛ نو له طوطي څخه به یې وپوښتي چې د سړک په غاړه یې دا کرښې څنگه داسې مستقیمې جوړې کړې دي او هېڅ فرق پکې نشته؟
فیلو ته یو ناڅاپه فکر ور ولوېد چې له کوم اړخه له کرښې څخه توپ کړي.
یو ناڅاپه د سرکس د څراغونو په څېر، آسماني رنگه پړکېدونکي څراغونه د فیلو لور ته را روان وو. فیلو ډېره حیرانه وه چې څنگه ټول سرکس د دې لور ته راروان دی او ولې په څراغونو کې زېړ او شوتلي شنه څراغونه نه ښکاري؛ ځکه د سرکس څراغونه خو ډېر رنگونه لري. یو ناڅاپه یې سپینو څراغونو سترگې وبرېښولې. فیلوهېڅ هم نه لیدل، په سترگو یې توره شپه شوه.
له څراغونو سره د پولیسو د موټرو غږ هم پیدا شو، قیوووو قیوووو یې شروع کړل. څراغونه له فیلو گردچاپېره ودرېدل او فیلو یې په منځ

کې را ایساره کړه.
کسان له موټرو را ښکته شول او د فیلو خوا ته را نږدې کېدل. فیلو چې ولیدل پولیس دي؛ نو فیلو وروړاندې شوه او پولیس ته یې وویل: زما نوم فیلو دی. ستا نوم څه دی؟
پولیس له فیلو څخه دوه گامه په شا ولاړ. فیلو د بل پولیس لوري ته ورغله، هغه هم ترې شاته شو. پولیس د دایرې په شان له فیلو څخه را تاو شوي وو.
فیلو یې حیرانه په منځ کې ولاړه وه؛ خو څوک یې په خبره نه پوهېدل. یو ځل یوه پولیس ته ور نږدې شوه او ورته یې وویل: زما نوم فیلو دی. دلته نږدې ډېر حیوانات او زما کورنۍ په سرکس کې دي.
پولیس د فیلو په خبره نه پوهېدل، په مخابره کې یې مرکز ته وویل: د حیواناتو ځانگړې څانگې ته احوال ورکړئ چې راشي او د فیل د بچي په نیولو او له دې ځای څخه په وړلو کې راسره مرسته وکړي.
فیلو پوه شوه چې پولیس هم د فیلو په خبره نه پوهېږي؛ نو لومړی یې خپله مخکې ښۍ پښه د سلام په مانا وړاندې کړه او خپل خرطوم یې پورته کړ او بیا کراره په منځ کې ودرېده.
پولیسو چې د فیلو دا حرکات ولیدل؛ نو خوشحاله شول چې فیلو نه په چا حمله کوي او نه د تېښتې هڅه کوي.
فیلو ټولو پولیسو ته په ځیر ځیر وکتل، د پولیسو په منځ کې هم د سرکس د مستاچیو په څېر یو بریتو و؛ خو دا بریتو لږ مهربانه ښکارېده؛ ځکه چې په لاس کې یې متروکه[2] نه وه.
د فیلو مستاچیو نه خوښېده؛ ځکه چې د سرکس مستاچیو یوه متروکه

۲ متروکه (قمچینه)



درلوده او ځاروي به يې پرې وهل. که څه هم فيلو يې نه وه وهلې؛ خو د نورو ځارويو په وهلو يې مستاچيو بد اېسېده. دا خو يې لا څه کوې، د مستاچيو په خاطر يې آن ټول سويان بد اېسېدل؛ ځکه چې د سويانو برېت د مستاچيو برېتو ته ورته وو.
د مستاچيو اصلي نوم سميت و؛ خو ده ته يې ځکه مستاچيو ويلې چې غټ غټ برېت يې پرېښي وو. فيلو يو وخت له طوطي پوښتنه کړې وه چې دې ته ولې مستاچيو وايې؟ طوطي ورته ويلي وو چې په انګلېسي کې برېتو ته مستاچيو وايي؛ نو دی غټ برېت لري؛ ځکه يې دا نوم پرې اېښی دی.
فيلو برېتو ته کتل او پوليس فيلو ته تعجب وړی و او په خپلو منځو کې يې خبرې کولې.
يو پوليس بل ته وويل: دلته نږدې خو ځنګل هم نشته، دا کوچنی فيل به له کوم ځای راغلی وي؟
برېتو پوليس چې په څه يې شخوند واهه او خوله يې ښورېده، ويې ويل:دلته نږدې ځنګل شته.
د پوليسو مشر وويل: خو د دې ځای ځنګل فيلان نه لري، ولې ته دومره معلومات نه لرې؟
برېتو پوليس چې د درېشۍ کمربند يې تر غټې خېټې لاندې تاو را تاو کړ، ويې ويل: صيب له اوله مې له جغرافيې سره جوړه نه وه؛ خو دومره پوهېږم چې فيلان په هغو ځنګلونو کې اوسي، کوم ځنګلونه چې ډېرې کېلې ولري.
ټولو پوليسو په کټ کټ ورته وخندل.
د پوليسو مشر په موسکا بيا وپوښتل: ښه آدم خانه! کېلې د فيلانو له



ژوند سره څه تړاو لري؟
ادم خان خپلو ملګرو پولیسو ته په غوسه وکتل او ویې ویل: ولې یې نه لري؟ د فیلانو کېلې ډېرې خوښېږي، که څنګه غورځنګ صیب؟
د پولیسو مشر غورځنګ پوښتنه وکړه: ښه آدم خانه! د فیل په اړه نور څه معلومات لرې؟
آدم خان خپل بریت تاو کړل او په خندا یې وویل: یو ځای مې لوستي وو چې فیل په اول کې ماشی و، غوښتل یې چې خپل وزن کم کړي؛ نو غذایي رژیم یې ونیو؛ خو په رژیم کې یې بد پرهېزي وکړه او ډېر خوارک یې وکړ؛ نو فیل ترې جوړ شو.
ټولو پولیسو په کړس کړس ورته وخندل؛ خو فیلو ته ډېره غوسه ورغله چې دا بریتو آدم خان څه ګډې وډې وایي.
یو پولیس بیا پوښتنه وکړه: آدم خانه! نور دې د فیل په اړه څه لوستي دي؟
آدم خان وویل: ګورئ ملګرو، ما د فیلانو په اړه ځانګړې مطالعه کړې ده. ویل کېږي چې پخوا وختونو کې فیل د ملاریا ماشی و، کله چې یې بد پرهېزي وکړه؛ نو له وزرونو څخه یې غوږونه جوړ شول.
بیا ټولو پولیسو په کړس کړس وخندل.
ټول پولیس پوهېدل چې آدم خان په هېڅ نه پوهېږي، د آدم خان عادت و چې د هر څه په اړه به یې له ځانه خبرې جوړولې او بیا به یې ویل چې ما په کتابونو کې لوستي دي.
پولیسو په خپلو منځونو کې وخندل او آدم خان ته یې وویل: فیل له ځان سره کور ته بوځه.
آدم خان وویل: په فیل به زه څه کوم ؟

يوه ملګري يې ورته وويل: شيدې به درته کوي. ته خو پوهېږې چې فيلان ډېر لوی وي، دا به هم ډېر غټ شي؛ نو ضرور به ډېرې شيدې کوي. آدم خان ورته وويل: د فيل شيدې د خوراک نه دي.
بل ملګري يې ورته وويل: ولې ،فيل خو واښه خوري؛ نو شيدې يې ولې د خوراک نه دي؟
آدم خان ورته وويل: که واښه خوري که غوښه؛ خو شيدې يې مرداري دي. که ستاسې هر څومره ټوکې زده وي، پر ما يې وکړئ، پروا نه کوي. دا ټوکې دې در باندې قرض وي.
د پوليسو د ډلې مشر غورځنګ په خندا آدم خان ته وويل: تاسې څه خبر يئ چې دا فيله ده که فيل.
د آدم خان دې ته لا پام نه و؛ نو د فيلو شا ته يې سر ټيټ کړ او ورو يې ور وکتل. فيلو ډېره په غوسه شوه، آدم خان ته يې مخ ور و ګرځاوه او خپل خرطوم يې پورته کړ او يوه له غوسې ډکه چيغه يې له خولې وويسته. آدم خان وارخطا په شا ولاړ.
ټولو پوليسو آدم خان ته خندل، يوه پوليس آدم خان ته وويل: د فيل په بچي ښه ونه لګېده چې ته يې وګورې.
دوی په دې خبرو کې وو چې د حيواناتو د ځانګړې ځانګې موټر را ورسېد. دوه کسان له موټره را ښکته شول، يو سړی له قده ټيټ او سر يې سپين و او بل يې لوړ ځوان و. د ځوان په لاس کې يوه اوږده لکړه وه چې د لکړې په سر کې يوه حلقه هم وه.
سپين سري سړي چې ږيره او بريت يې دواړه خريلي وو، د پوليسو د ډلې مشر ته وويل: اسلام عليکم، زما نوم مهربان شاه دی، د حيوانانو د ځانګړې ځانګې مسؤول.

د پوليسو د ډلې مشر وويل: په ليدو مو خوشحال شوم. زما نوم غورځنګ دی، دا د فيل بچی مو دلته پيدا کړ. له موږ سره نه امکانات شته او نه پوهېږو چې څنګه يې ونيسو. که يې ونيسو؛ نو بيا څه ورسره وکړو؛ ځکه مو تاسې ته زحمت درکړ.

مهربان شاه د فيلو خوا ته ور وړاندې شو، غورځنګ ته يې ووېل: هيله کوم، دا زموږ دنده ده. فيلو خپل خرطوم د مهربان شاه خوا ته پورته کړ او دوه ګامه د مهربان شاه خوا ته وروړاندې شوه او خپل سر يې ورته وښوراوه. مهربان شاه غورځنګ ته مخ ور واړاوه او ورته يې ووېل: دا د فيل بچی غواړي موږ ته څه ووايي؛ خو زه نه پوهېږم چې څه وايي.

فيلو بيا خپل سر په زوره زوره وښوراوه.

مهربان شاه فيلو ته ښکته شو او د فيلو غاړې ته ځير شو. يو دوه ګامه نور هم ور وړاندې شو او په خوشحالۍ يې غورځنګ ته ووېل: داسې ښکاري چې په غاړه کې يې يو څه شته. کېدای شي د فيل د بچي په اړه پکې معلومات ليکلي وي.

فيلو بيا خپل سر په زوره زوره وښوراوه او په غاړه کې يې د زېړو مډال ښکاره شو.

مهربان شاه ووېل: د طبيعت څېړونکي د حيواناتو او مرغانو په غاړه او پښو کې اکثره داسې کړۍ اچوي چې د حيوان او يا الوتونکي ځای، عمر وزن او يا د سفر مسير پکې ليکل شوي وي.

مهربان شاه نور هم ډاډه شو او فيلو ته نور هم ور نږدې شو. د فيلو په غاړه کې يې هغه مډال وليد چې د سرکس نوم او لوګو پکې وو.

د پوليسو د ډلې مشر غورځنګ ته ووېل: دا خو د کاردن سرکس فيل

دی، وګورئ دلته نږدې کوم سرکس شته؟
د پولیسو مشر غورځنګ د پولیسو مرکز ته زنګ وواهه او له مرکز څخه یې غوښتنه وکړه چې سرکس له کوم هېواد څخه راغلی او اوس د ښار په کومه سیمه کې دی.
مهربان شاه فیلو ته ډاډګېرنه ورکوله او ورته یې ویل: مه خپه کېږه، اوس به دې ببرته خپل ځای ته یوسي او له خپلې کورنۍ سره به یو ځای شي.
فیلو د منني په مانا خپل خرطوم پورته ونیو او خپل خرطوم یې د کارکوونکي په لاس کېښود.
مهربان شاه وویل: ملګرو تاسې ته دا یو فیل دی؛ خو د دې فیل په اړه تاسې څومره معلومات لرئ؟ ستاسې ډېر معلومات به همدا وي چې فیل خرطوم لري او څلور پښې لري؛ خو دا هغه معلومات دي چې تاسې یې په سترګو وینئ. تاسې پوهېږئ، د ځمکې پر سر په وچه تر ټولو لوی حیوان فیل دی. دوی یوازې په ځنګلو او دښتو کې ژوند کوي. له ۴ زره کیلو ګرامه تر ۷ زره کیلوګرامو پورې یې وزن رسېږي. یو نیم فیل بیا تر ۱۰ زره کیلوګرامو وزن هم لري؛ خو داسې کله کله کېږي.
مهربان شاه د فیلو خرطوم ته اشاره وکړه، فیلو اول خپل خرطوم ته وکتل او بیا یې خرطوم پورته کړ. مهربان شاه په خندا شو: هو همدا یادوم او بیا یې پولیسو ته مخ ور واړاوه او له ولاړو پولیسو یې پوښتنه وکړه: آیا تاسې پوهېږئ، د یو لوی فیل خرطوم څومره وزن لري؟ د یو لوی فیل خرطوم تر ۱۸۰ کیلو ګرامو رسېږي. د دوه چاغو انسانانو برابر او د خرطوم له دومره وزن سره بیا هم فیل کولای شي. د همدې

خرطوم په وسیله له ځمکې څخه ډېر واړه شیان پورته کړي، یعنې کولای شي چې د وریجو یوه دانه له ځمکې پورته کړي.
فیلو ډېره زیاته حیرانه شوې وه؛ ځکه لږ وړاندې چې بریتو پولیس د فیلانو په اړه کومې خبرې کولې، ټولې غلطې وې؛ خو اوس دې ولیدل چې څومره پر ځای معلومات لري.
مهربان شاه خبرې کولې او فیلو ډېره خوشحاله وه چې د فیلانو صفت کوي.
مهربان شاه زیاته کړه: ګورئ د همدې خرطوم په واسطه کولای شي درې سوه کیلو ګرامه وزن له ځمکې پورته کړي، یعنې د سیمنټو شپږ بوجۍ سره یو ځای کړي او پړی پکې واچوي؛ نو فیل کولای شي چې په خرطوم یې له ځمکې پورته کړي او د همدې خرطوم له لارې تنفس کوي. تر ټولو جالبه خو یې لا دا چې فیل له دومره غټوالي سره سره ښه لامبو وهلی شي. له ۳ تر ۵ مترو پورې لوړوالی لري.
فیل د څو هېوادونو ملي سمبول هم دی لکه هند، تایلنډ او سویل ختیځ هېوادونه.
په دې وخت کې د پولیسو له مرکز څخه ورته مخابره وشوه. ورته ویې ویل چې د سرکس ځای پیدا شوی او تاسې په دې لاندې پته ورتلی شی.
فیلو یې یو ځانګړي موټر ته پورته کړه او د سرکس په لور یې حرکت وکړ. فیلو یې بېرته سرکس ته وسپارله.
فیلو چې کله بېرته سرکس ته ورسېده؛ نو خپه وه، چې د کورنۍ له اجازې پرته د باندې تللې وه؛ خو کله چې بېرته سرکس ته ولاړه؛ نو د فیلو ورونه او خویندې ترې را تاو شوې، مور و پلار ور نږدې شول او

خرطوم يې د فيلو له خرطوم سره وجنګاوه؛ خو انا يې په ځای د دې چې خپل خرطوم ورسره وجنګوي او ناز ورکړي، پوښتنه يې ترې وکړه: د باندې دې څه کول فيلو لورکی؟

فيلو چې ښکته ځمکې ته کتل او خپله پښه يې په ځمکه کراره کراره وهله، انا ته يې وويل: زېړه زرغونه مې لټوله، غوښتل مې چې ترې ټوپ کړم.

پلار يې وپوښتل: فيلو! زېړه زرغونه دې پيدا کړه، څه شی و؟

فيلو وويل: پيدا مې کړه. د سړک په غاړه زېړه کرښه دې ليدلې؟ له هغې چې څوک ټوپ واچوي؛ نو ښځه په نر بدلېږي او نر په ښځه بدلېږي.

د فيلو وروڼو او خويندو په کټ کټ وخندل.

فيلو ټولو ته حيران حيران وکتل، د فيلو پلار ور وړاندې شو او فيلو ته يې وويل:

زما خوږې لورکی، زه د سړک د څنډې له زېړې کرښې سلګونه ځله اوښتی يم؛ خو په ما کې هېڅ تغيير نه دی راغلی. دا چا درته ويلي، دا به هرومرو طوطي درته ويلي وي.

فيلو ورته وويل: انسانانو ويلي او انسانان دروغ نه وايي؛ ځکه انسانان ډېر تجربه کاره دي.

پلار يې ورته وويل: زه خو لوستی نه يم؛ خو دومره پوهېږم، چې د سړک د غاړې کرښه نه ده، دا زېړه زرغونه ضرور کوم بل څه ده.

د فيلو پلار په داسې حال کې چې خپل خرطوم يې د فيلو له خرطوم سره موښه، له فيلو څخه پوښتنه وکړه: فيلو جانې؛ نو که ته فيل شي، څه به کوې؟

فیلـو ورتـه وویـل: ټـول مـا تـه وایـي تـه فیلـه یـې، تـه څـه نشـې کـولای، تـه بېـکاره یـې. کـه لـه مـا څخـه نـر فیـل جـوړ شي (مسـتاچیو) چـې زمـا ملګـري پـه متروکـه وهـي، اول خپـل ټـول ملګـري تـرې خلاصـوم او پـه سرکـس کـې داسـې ننداري وړانـدې کـوم، چـې ټـول حیـران شي.

د فیلـو ټولـې کورنـۍ د زېـړې زرغونـې پـه اړه خـبرې کولـې. ځینـې یـې پـه دې بـاور وو چـې کېـدای شي د پټـې د پولـو پـه شـان بـه وي؛ خـو د کورنـۍ نـور غـړي بیـا پـه بـل نظـر وو. دوی داسـې فکـر کاوه چـې کېـدا شي د کومـې لوېدلـې ونـې خاښـونه وي، نجونـې تـرې ټوپونـه وهـي. دقیق یـو هـم نـه پوهېـده؛ ځکـه چـې د فیلانـو د کورنـۍ ځینـې غـړي یـې لـه افریقـا څخـه راوسـتي وو او نـور دلتـه پـه سرکـس کـې پیـدا شـوي وو.

فیلو پوښتنه وکړه: افریقا څه ته وایي؟

انـا یـې ورتـه وویـل: افریقـا زمـوږ هېـواد دی. داسـې ښـکلې خـاوره چـې هـر لـور تـه شـنه ځنګلونـه دي، روانـې اوبـه او د اوبـو لـوی لـوی ډنډونـه. داسـې یـوه خـاوره، چـې ټـول حیوانـات پکـې آزاد ګرځـي.

مـور او پـلار یـې فیلـو تـه وویـل چـې اوس ویـده شـه، شـپه ناوختـه ده، سبا بـه بیـا خـبرې کـوو.

سـهار لمـر لا نـه و راختلـی، فیلـو یـوازې پـه چورتونـو کـې د سرکـس پـه څنـډه کـې ولاړه وه، طوطـي یـې خـوا تـه راغـی طوطـي د فیلـو مخـې تـه ودرېـده او ورتـه یـې وویـل: سـلام، سـهار پـه خیـر. څنګـه یـې فیلـو، وایـي پـرون ورکـه شـوې وې؟

فیلـو پـه غـرور سره ورتـه وویـل: ورکـه شـوې خـو نـه وم، غوښـتل مـې چـې زېـړه زرغونـه پیـدا کـړم؛ خـو پولیسـو بېرتـه راوسـتلم.

طوطـي ورتـه وویـل: دواړه یـوه خـبره ده. ډېـر غـرور مـه کـوه، کلـه چـې

د خپل کور لاره درنه ورکه شي او خپل کور ته نشې تللی، دې ته ورکېدل وايي. په داسې وخت کې باید له پولیسو او یا یو مشر کس څخه کومک وغواړې. خو له ما څخه به دې مرسته غوښتې وه.
فیلو په خوشحالۍ طوطي ته وويل: ته غواړې له ما سره مرسته وکړې او زېږه زرغونه را ته پیدا کړې؟ ته خو الوتلی شې، پولیس دې نشي نیولی.
طوطي ورته په خندا شو او ورته ویې ویل: په سرکس کې له ډېرې ننداري وړاندې کولو مې د وزرو بڼکې کمزورې شوې دي، ډېر الوتلی نه شم؛ خو زه به له یوه انسان څخه پوښتنه وکړم.
فیلو بیا خپه شوه او له طوطي څخه یې مخ واړاوه.
طوطي په سرکس کې دا ننداره هم وړاندې کوله چې ځای په ځای به ولاړ و، څرخک به یې خوړ او شعر به یې ویلو. نن هم د فیلو مخې ته په څرخکو شو چې فیلو خوشحاله کړي.
له څرخېدو سره یې دا شعر پیل کړ:

اللو للو للو للۍ
د پشو مې سره خولۍ

اسمان کې پړکې پړکې
د پشو مې سرې څپړکې

جومات کې الف با تا وایم
پلار ته مې بابا وایم

مکتب کې یو دوه درې وایم
مور ته مې ادې وایم

شعر چې کله خلاص شو؛ نو له فیلو څخه یې پوښتنه وکړه: اوس خو خوشحاله شه کنه، ته پوهېږې چې دا شعر د چا دی؟ دا د سبا احمدزي شعر دی، په ټلوېزیون کې د ماشومانو په خپرونه (ځیرک ماشوم) کې یې لوستی و.

فیلو طوطي ته ووېل: ته څنګه د انسانانو په ژبه خبرې کولای شې؟

طوطي ورته وخندل او ویې ویل: ګوره زه د انسانانو په ټولو ژبو خبرې نه شم کولای، بس لږ لږ پرې پوهېږم. د انسانانو ډېرې ژبې دي؛ خو زه په دا یو څو مشهورو ژبو لږې لږې خبرې کولای شم.

طوطي او فیلو دواړه سره ملګري شول. له سرکس سره په نږدې میدان کې یې یو هلک ولید چې شکته پورته کېده. فیلو په حیرانۍ سره له طوطي څخه پوښتنه وکړه: دلته خو هېڅوک نشته، دا هلک چا ته ننداره وړاندې کوي؟

طوطي ورته په خندا شو او ویې ویل: وه ساده فیلو! هغه ننداره نه وړاندې کوي، بلکې هلک ورزش کوي. انسانان په ورزش کولو سره د خپل صحت خیال ساتي؛ څو صحتمند واوسي.

طوطي فیلو ته ووېل: ته راځه را پسې زه ولاړم. طوطي لاړ پاس په ونه کې کېناست او هلک ته یې ووېل: اسلام علیکم، زما نوم طوطي دی او دا لاندې راروانه زما ملګرې فیلو ده. که یوه پوښتنه درنه وکړم، ته یې ځواب راکولی شې؟

هلک فیلو ته ډېر حیران کتل؛ ځکه دا یې لومړی ځل و چې فیل یې له نږدې لیده. هلک بېرته طوطي ته مخ کړ او په تعجب یې طوطي ته ووېل: وعلیکم سلام، زما نوم ریان دی. ته څنګه زموږ په ژبه خبرې کولای شې؟

طوطـي ورتـه وویـل: مـوږ د کاردن نړیـوال سرکـس غـړي یـو. زمـوږ ډول ډول لوبې زده دي. پـه سرکـس کـې زمـا دا دنـده ده چـې د خلکـو پـر وړانـدې د مسـتاچیو د خندوونکـو پوښـتنو ځوابونـه ورکـړم او زه کـولای شـم پـه څـو ژبـو لـه انسـانانو سره خـبرې وکـړم. اوس تـه زمـا پوښـتنې تـه ځـواب راکـولای شـې؟

ریـان ورتـه وویـل: پـه پښـتو کـې یـو متـل دی چـې وایـي انسـان تـر خپلـې وسـې پـړ دی. پوښـتنه دې وکـړه، کـه مـې زده وه؛ نـو ځـواب بـه یـې درکـړم.

طوطي ورته وویل: زېړه زرغونه څه ته وایي؟

ریـان کـټ کـټ پـه خنـدا شـو او طوطـي تـه یـې وویـل: تـه خـو وړوکـی یـې؛ خـو دا فیـل خـو غـټ دی، لا تـر اوسـه زېـړه زرغونـه نـه پېـژني. دلتـه ځینـې خلـک ورتـه شـنه زرغونـه هـم وایـي او ځینـې خلـک یـې د بـوډۍ ټـال بـولي. پـه عـربي کـې ورتـه قـوس قـزح وایـي او پـه انګلېسـي کـې ورتـه (Rainbow)رینبـو وایـي. پـه دري کـې یـې بیـا رنګیـن کـمان او کـمان رستم یـې هـم بـولي. لـه یـو نیـم بـاران څخـه وروسـته د آسـمان پـه څنـډو کـې راښـکاره شي. پخـوا بـه خلکـو ویـل چـې پـه کـوم ځـای کـې شـنه زرغونـه لـه ځمکـې سره لګېدلـې وي، هلتـه پـه ځمکـه کـې سره زر وي. زمـا انـا راتـه ویـل چـې دا پـه آسـمان کـې یـوه بـوډۍ ښـځه ده، دا د هغـې ټـال دی او بـوډۍ پکـې زانګـي.

فیلـو لـه ریـان څخـه پوښـتنه وکـړه: تـا زېـړه زرغونـه پـه خپلـو سـترګو لیدلـې؟

ریـان وویـل: څـو ځلـه مـې لیدلـې، پـاس پـه آسـمان کـې وي او اووه رنګونـه لـري، داسـې لینـدۍ غونـدې وي. کـه یـو سر یـې پـه هغـې پـورې غونـډۍ کـې وي؛ نـو بـل سر یـې بیـا پـه هغـه پـورې ډنـډ کـې وي؛ خـو د لینـدۍ

منځ ډېر اوچت وي. کله کله له نیمې دایرې څخه لږه کمه وي او کله هم د دایرې څلورمه برخه وي، لکه له هغې غونډۍ څخه تر دې پورې کورنو پورې وي.

فیلو په حیرانۍ سره ترې پوښتنه وکړه او په خپل خرطوم یې د غونډۍ خوا ته اشاره وکړه: دومره غټه! له هغې غونډۍ څخه تر هغو کورونو پورې؟ دا خو دومره لاره ده چې سهار روان شې؛ نو ماښام ایله ورسېږې.

ریان ورته د هو په مانا سره وښوراوه.

فیلو طوطي ته وویل: راځه چې ځو. طوطي پر والوت، د فیلو پر شا کیناست او ریان ته یې وویل: د خدای په امان. فیلو له ډېرې حیرانۍ سره یو ځای د سرکس په لور را روانه شوه.

فیلو او طوطي پټ پټ د شا له خوا سرکس ته دننه شول؛ څو مستاچیو خبر نه شي چې دوی له سرکس څخه د باندې تللي وو.

کله چې ننوتل؛ نو فیلو خپلې کورنۍ ته ورغله او ورته یې وویل: زېړه زرغونه داسې یو شی دی چې له باران وروسته په آسمان کې د لیندۍ یا کمان په شکل د یو څو شېبو لپاره پیدا کېږي.

د فیلو مشر ورور په کړس کړس وخندل او خپلې انا ته یې وویل: لیونۍ لمسۍ فیلو ته دې ګوره چې موږ ټول یې دومره سرګردانه کړي وو. ولې ته نه پوهېږې؛ خو داسې به دې ویلي وو چې رینبو یادوم، هغه ته خو ریمبو وایي، تا خو زېړه زرغونه ښودله.

فیلو له خپل پلار، مور او انا څخه ګیله وکړه، ورته یې وویل: تاسې خو هېڅ وخت د شنې زرغونې په اړه ما ته څه نه دي ویلي، کنه زه به لا پخوا فیل شوی وم. زه حیران یم چې زېړه زرغونه ما څنګه نه ده لیدلې؟



پلار یې فیلو ځان ته نږدې کړ او بیا یې په سر خرطوم ور تېر کړ او ورته یې وویل: فیلو! ته خو دلته په سرکس کې پیدا شوې یې. ډېر وخت مور په سرکس کې د تجیر لاندې یو، د باندې نه یو وتلي او یا په خپلو ځانګړو کوټو کې بندیان یو؛ نو ځکه دې نه ده لیدلې.
فیلو ولاړه، د مور څنګ ته نږدې ودرېده. په دې سوچ کې وه چې اول باید داسې یو ځای پیدا کړم چې ډېر بارانونه پکې کېږي؛ ځکه ریان ویل چې له یو نیم باران څخه وروسته کله کله د آسمان په څنډو کې پیدا کېږي؛ خو فیلو په دې فکر کې وه چې څنګه به ترې ټوپ اچوي. ریان ورته ویلي وو چې د آسمان په څنډو کې اوچته وي. فیلو ته نه خوراک او نه څښاک خوند ور کاوه. په زړه کې یې یو ارمان و چې څنګه به زرغونه پیدا کړي او له دې څخه به نر فیل جوړ شي.
خپله کورنۍ او دا ټول حیوانات به د سرکس له سخت حالت څخه ازاد کړي؛ څو دوی په ځنګلونو کې ازاد او له ستورو تر ډک اسمان لاندې ژوند وکړي. فیلو ته یو ډول لټي پیدا شوې وه. له دې وړاندې به یې د مور او پلار په مخ کې ټوپونه وهل. کله کله به یې ورته سر ښوراوه، کله کله به یې له خویندو- وروڼو سره منډې وهلې او کله کله به یې هغه مرغۍ هم نه پرېښودې چې د کورنۍ د غړیو پر شاګانو به کېناستې.
ډېرې ورځې تېرې شوې، یوه ورځ فیلو خپل پلار او مور ته راغله او ورته وېې ویل: زه باید ولاړه شم او زېړه زرغونه پیدا کړم. د فیلو مور وارخطا د فیلو پلارته وکتل او داسې حیران یې ورته کتل چې دا فیلو څه وایي؟! د فیلو پلار هم حیران و؛ خو دومره حیران نه و؛ لکه د فیلو مور چې حیرانه شوې وه. پلار یې فیلو ته وویل: دا خبره دې

موږ ته وکړه چې بل چا ته يې ونه کړې، کنه نو په پښو کې به دې غټ زنځير واچوي. فيلو ته يې د خپلې پښې زنځير ور وښود.
فيلو ډېره خپه لاړه او د سرکس په يوه کونج کې ودرېده. هغه په فکرونو کې ډوبه وه چې انا يې راغله او د فيلو په څنګ کې ودرېده.
د فيلو انا پوهېده چې فيلو خپه ده، فيلو ته بيا مور و پلار څه ويلي دي. دواړه څنګ په څنګ ولاړې وې؛ خو هېڅ يې يو بل ته نه ويل.
فيلو داسې فکر کاوه چې د ژوند پای همدلته دی، د نړۍ اخر دلته دی، نور هرڅه ختم شول، د دې راتګ نړۍ ته بې مانا دی. هغه ډېره خپه وه.
له ښايسته سترګو يې دوه ځاځکي اوښکې وڅڅېدې او خرطوم يې کش کړ. انا يې د خرطوم دسمال ورته ونيولو چې خپل خرطوم پاک کړي.
فيلو له انا څخه دسمال واخيست او خپلې اوښکې يې وچې کړې.
انا ته يې خرطوم ور پورته کړ او انا يې هم فيلو ته خرطوم ور نږدې کړ. هغې فيلو ځان ته نږدې کړه او فيلو ته يې وويل: ته داسې فکر کوې چې ستا راتګ نړۍ ته هېڅ ګټه نه لري. که ته او ستا په شان نورې فيلې رانشي؛ نو د فيلانو دا کورنۍ به څوک سمبالوي؛ څکه د فيلانو کورنۍ خو ښځينه فيلانې رهبري کوي.
فيلو حيرانه شوه چې زما انا څنګه زما په زړه پوه شوه. انا يې ورته وويل: زه چې کله وړه ومه، ما هم داسې فکر کاوه؛ خو اوس وګوره چې يوه لويه کورنۍ او ستا غوندې ښکلې فيلو لمسۍ لرم.
فيلو ورته وويل: زه به څنګه زړه زرغونه پيدا کړم؟
د فيلو انا ورته وويل: ته کولای شې چې زړه زرغونه پيدا کړې. ته

باید زمبابوې ته سفر وکړې او هلته د زامبي په سیند کې د وکتوریا په آبشار کې هر مازیګر زېړه زرغونه وي، ته ورشه هلته به یې ووینې.
فیلو ډېره خوشحاله شوه او له انا څخه یې پوښتنه وکړه: افریقا ته به زه څنګه لاړه شم، زامبي سیند چېرته دی؟
انا یې ورته وویل: ډېره اسانه ده، ته به یوه ورځ ضرور زامبي سیند ته رسېږې.
فیلو سر پورته کړ او له انا څخه یې پوښتنه وکړه: ولې ما نه پرېږدې چې لاړه شم زېړه زرغونه پیدا کړم او تر دې واوړم چې رانه غټ نر فیل جوړ شي.
د فیلو انا ورسره وعده وکړه چې په دې اړه به یې له مور او پلار سره خبرې کوي.
ماښام په سرکس کې د خېمو راټولول پیل شول، موټر بار شو. د سرکس کارکوونکو غوښتل سهار وختي له دې ښاره بل ښار ته ټول حیوانات او وسایل ولېږدوي. سهار وختي موټرو حرکت وکړ. فیلو په دې ډېره خپه وه چې هلته به مېړیان وي که نه؟ د سرکس د موټرو کاروان پوره یوه ورځ مزل وکړ او مازیګر بل ښار ته ورسېدل. د سرکس لپاره له ښاروالۍ څخه د ښار په یوه څنډه کې اجازه اخیستل شوې وه. شین چمن و، لرې یو څو ونې ولاړې وې.
ماښام فیلو ووتله، غوښتل یې له ستورو ډک اسمان وګوري؛ خو کله چې د باندې لاړه؛ نو په اسمان کې هېڅ نه ښکارېدل؛ ځکه د ښار د څراغونو رڼا ډېره وه. بېرته راغله او ویده شوه.
فیلو یوه ورځ د خپلې کورنۍ د غړیو په مخ کې ودرېده او ویې ویل چې غواړي د ویکټوریا ابشار ته ولاړه شي او هلته زېړه زرغونه وګوري.



مور یې ورته را وړاندې شوه، خوله یې پرې پټه کړه او ورته یې وویل: اششششششش چوپه شه، د سرکس کسان دې خبرې وا نه وري. دا ته څه وایې؟ خوله دې پټه کړه.
فیلو وویل: دا زما د ژوند ارمان دی، زه غواړم چې افریقا ته ولاړه شم او زېره زرغونه پیدا کړم.
د فیلو مور ورته وویل: ګوره فیلو ګرانې! ته له دې ځای څخه افریقا ته نه شې تللی؛ ځکه په لاره ډېر خطرونه شته، له ډېرو ناوړه حالاتو سره مخ کېدای شې.
فیلو له خپلې مور څخه پوښتنه وکړه: د څه خطر؟ زه خو یوازې نه یم، نور ملګري هم راسره ځي. طوطي او بیزو هم راسره ملګري دي.
د فیلو مور ورته وویل: ګوره فیلو جانې، هغوی بل ډول دي او موږ بل ډول. طوطي او بیزو ته د ښاتو د مچیو هېڅ خطر نشته؛ خو تا ته شته. خدای مه کړه که د ښاتو له مچیو سره مخ شې، د ښاتو مچۍ ډېر بد غږ لري او د ښاتو مچۍ پر یوه ځای حمله کوي. په لاره کې کېدای شي له مېږیانو سره مخ شې. که مېږی دې په خرطوم کې دننه شي؛ نو مړه به شې.
که څه هم فیلو د ښاتو د مچۍ د نوم په اخیستو ووېرېده؛ خو د مېږیانو په خبره حیرانه شوه او مور ته یې وویل: ما خو له مېږیانو سره خبرې وکړې، ما ته خو یې هېڅ ونه ویل.
د فیلو د کورنۍ د غړیو خولې له حیرانۍ خلاصې پاتې شوې، د فیلو مور ورته وویل : که مېږی دې په خرطوم کې ننوتی وای، مړه شوې به وای.
فیلو وویل: بس چې هر څه کېږي؛ خو زه افریقا ته ځم.

د فیلـو مـور ورتـه وویـل: ګـوره فیلـو جانــې، طوطـي الـوزي او بیـزو لـه خپلـې پښـې څخـه اغـزي ویسـتلی شي. کـه سـتا پـه پښـو کـې اغـزي لاړ شي؛ نـو زخـم بـه دې میکـروبي شي او مـړه بـه شي.

فیلو ورته وویل: که هر ډول کېږي، زه باید ولاړه شم.

فیلـو پـلار تـه ډېـرې زارۍ کولـې؛ خـو انـا یـې فیلـو تـه اجـازه ورکـړه چـې افریقـا تـه ولاړه شي؛ ځکـه چـې د فیلانـو کورنـۍ ښـځینه فیلانـې رهـبري کـوي؛ خـو پـه یـوه شرط یـې اجـازه ورکـړه چـې دوه نـور ملګـري بـه هـم ورسره وي.

فیلـو لـه خپلـې کورنـۍ سره خـبرې کولـې چـې طوطـي پـه منـډه راغـی او فیلـو تـه یـې وویـل: تـه پوهېـږې چـې بـاران څنګـه ورېـږي، دا وګـوره چـې په دې کتـاب کـې یـې څـه لیـکلي دي؟

فیلـو، بیـزو او طوطـي درې واړه د سرکـس پـه کونـج کـې سره کېناسـتل، طوطـي ورتـه کتـاب لوسـت، بیـزو او فیلـو ورتـه غـوږ نیولـی و.

طوطـي پـه کتـاب سر ښـکته کـړ: وایـي ټولـه ځمکـه چـې پـه څلـورو برخـو وېشـې؛ نـو درې برخـې اوبـه دي چـې انسـانان ورتـه سـمندر وایـي او د ځمکـې یـوه برخـه وچـه ده. کلـه چـې لمـر د سـمندر پـه اوبـو لوېـږي؛ نـو لـه دې اوبـو څخـه بخـار یـا بـړاس جوړېـږي، لکـه د سرکـس پـه کانتیـن کـې چـې اوبـه کلـه پـه جـوش راشي؛ نـو لـه چـای جـوش څخـه بـړاس پورتـه کېـږي، بیـا دغـه بـړاس پورتـه خېـژي او د ځمکـې لـه جاذبـې څخـه تښـتي. کلـه چـې لـږ پورتـه شي؛ نـو بـاد راشي او دا بخـار یـوه لـوري تـه ټېـل وهـي؛ بیـا بـړاس پـه وریځـو بـدل شي، لـه ځمکـې څخـه پورتـه هـوا سـړه وي؛ نـو بـړاس د اوبـو پـه وړو څاڅکـو بـدل شي او څاڅکـي لـه یـو بـل سره نـور هـم نـږدې شي. پـه اخـر کـې څاڅکـي غټ شي او بېرتـه د

باران په شکل څمکې ته راځي. که هوا لږه نوره هم سړه وي؛ واوره تري جوړېږي.
فیلو ورته وویل: زرغونه راته پیدا کړه، باران څه کوم.
طوطي په خواشیني انداز فیلو ته وویل: نو ما خو باران پیدا کړی، له باران وروسته زرغونه را پیدا کېږي، صبر به کوې.
فیلو طوطي او بیزو ته وویل: ما ته خو کورنۍ اجازه راکړه، تاسې له ما سره ځئ؟
بیزو پوښتنه وکړه: د څه شي اجازه یې درکړه؟
فیلو وویل: اجازه یې راکړه چې افریقا ته سفر وکړم او په وکتوریا ابشار کې زیړه زرغونه وګورم. اوس نو ته دا معلومات را پیدا کړه چې زامبي سیند چېرې دی او له کومې لارې ورشو.
بیزو او طوطي ورسره وعده وکړه چې موږ به په دې سفر کې له تا سره ملګري یو.

# درېیم څپرکی

# د افریقا په لور د سفر هوډ



طوطي په سرکس کې چا ته نشواى ويلى چې دى له فيلو او بيزو سره افريقا ته ځي؛ ځکه که د سرکس کارکوونکي خبر شوي واى؛ نو طوطي به يې په پنجره کې اچولى وى او فيلو به يې په غټ زنځير تړلې واى. خو طوطي مجبور و چې د نړۍ يوه نقشه او يوه قطب نما پيدا کړي.

په سرکس کې وګرځېده، په يوه ځاى کې يې يوه نقشه پيدا کړه او بيا ولاړ، د سرکس په اداره کې يو زوړ خراب ساعت پروت و چې د ساعت په بند کې يوه قطب نما وه، دا يې هم له ځان سره واخيسته او د فيلو خوا ته ورغى.

فيلو، طوطي او بيزو درې واړه سهار وختي په تياره کې له سرکس څخه ووتل او مخ په افريقا روان شول.



کله چې لمر را وخوت؛ نو په سرکس کې آوازه خپره شوه چې د سرکس درې حیوانات ورک دي. د فیلانو کورنۍ فیلو ته په تشویش کې وه؛ خو پوهېدل چې فیلو او نور ملګري یې افریقا ته روان شوي دي. د فیلو د کورنۍ تشویش هغه وخت زیات شو چې د سرکس مشر خپلو کسانو ته امر وکړ چې فیلو باید ډېره ژر پیدا کړي؛ ځکه که په دوه دریو ورځو کې پیدا نه شوه؛ نو هوا سړه ده او د واورو ورښت پیل کېږي او فیلو ممکن مړه شي. د سرکس ټولو کارکوونکو کوځه په کوځه ښار لټاوه او پولیسو ته یې هم احوال ورکړی و.



# څلورم څپرکی

# د افریقا په لور د سفر هوډ



فیلو او ملګري یې چې کله له سرکس څخه راوتي وو؛ نو هلته هوا په سړېدو وه؛ خو دومره ورځې نه وې تېرې شوې چې هوا ورځ تر بلې ګرمېده. فیلو له طوطي څخه پوښتنه وکړه: دا هوا ولې داسې ګرمه شوه، ما خو اورېدلي چې ژمې درې میاشتې وي، اوس خو لا میاشت هم نه ده تېره او هوا داسې ګرمه شوه؟

طوطي ورته په خندا شو او ویې ویل: له کومه ځایه چې موږ حرکت کړی و، هغه غرنۍ سیمه وه؛ ځکه هلته واورې ورېږي. دا سیمه سمندر ته نږدې ده، دا ګرمې سیمې دي. دلته ژمی نه وي. که وي هم؛ نو هوا دومره سړه نه وي.

فیلو ورته موسکه شوه او له طوطي څخه یې پوښتنه وکړه: طوطي، افریقا څه ته وایي؟

طوطي په خندا شو او پوښتنه یې وکړه: څنګه، د افریقا په اړه تشویش لرې؟

بیزو ورته وویل: اوس خو موږ افریقا ته روان شوي یو، که لږ معلومات موږ ته راکړې.

طوطي ورته وویل: مزل به هم کوو او زه به د افریقا په اړه معلومات هم درکړم. راته غوږ شئ.

فیلو او بیزو ورته وویل: درته غوږ یو.

طوطي دوارو ته وویل: د افریقا لویه وچه د شمال لوري ته د مدیترانې له سمندر، شمال شرق لوري ته د سویس له کانال او سره سمندرګي سره، ختیځ لوري ته د عدن له خلیج، جنوب شرق لوري ته د هند له سمندر او غرب لوري ته د اطلس له سمندر سره ګډه پوله لري او ته پوهېږې فیلو چې د افریقا په بر اعظم یعنې لویه وچه کې٦١ هېوادونه دي. دا معلومات مې له جغرافیې څخه زده کړي دي. جغرافیه هغو کتابونو ته وایي چې د ځمکې، غرونو، سیندنو، هېوادونو، سمندرونو او لویو وچو په اړه پکې معلومات وي.

بیزو وویل: خدای دې وکړي، ژر ورسېږو چې افریقا ووینم.

دوی په کیسه کیسه یوې سپېرې دښتې ته ورسېدل چې هېڅ پکې نه ښکارېدل. هر لور ته شګې وې په دښته کې سخته ګرمي وه. دوی سخت تږي شوي وو.
ټول ملګري یې ډېر تږي شوي وو. هر لور ته ګرځېدل؛ خو د اوبو درک نه و. فیلو یوه وچ خوړ ته کوزه شوه او د خوړ شګې یې بویولې. همداسې مخکې ولاړه، یو ځای یې په شګه کې ګونډې ووهلې او طوطي او بیزو ته یې وویل: دلته له شګې لاندې اوبه شته.
ټولو د شګې په کېندلو پیل وکړ. ژر ژر یې کار کاوه چې بالاخره شګه لنده شوه. لږه شېبه وروسته په شګه کې اوبه راپیدا شوې. اوبه چې کله رڼې شوې؛ نو ټولو ښه په مړه ګېډه وڅښلې. په یوه ساعت کې نور مرغان او حشرات راغلل او په نوبت سره یې اوبه وڅښلې. مرغانو او حشراتو اوبه څښلې، د مرغۍ بچی راغی او له فیلو څخه یې مننه وکړه چې دوی ته یې اوبه پیدا کړې.
د فیلو له سترګو اوښکې روانې وې؛ خو طوطي ډېر خوشحاله ښکارېده او له فیلو څخه یې پوښتنه وکړه: اوس خو دې دومره ستر کار هم وکړ؛ نو ولې ژاړې؟
فیلو وویل: کاش اوس مې مور و پلار لېدلي وای چې ما څنګه له شګې لاندې اوبه په بوی پیدا کړې او څمکه مې ژوره کړه، اوبه مې راوېستې. اوس به یې څومره ویاړ کاوه.
له ټولو ملګرو یې خدای په اماني واخیسته او روان شول. دوه ورځې یې مزل وکړ، یو ځل بیا له تندې سره مخ شول او فیلو خو ډېره په دې په تکلیف وه چې ډېره یې لوږه وه او لمر پرې ډېر بد لګېده. دا خو یې لا څه کوې، کله ناکله به چې د فیلو په شاه مچ کېناسته؛ نو فیلو به ډېره سخته په عذاب شوه.
اول خو طوطي د فیلو پر شا باندې ناست و، کله به چې مچان راغلل؛ نو طوطي به د فیلو په ملا د لکۍ خوا ته ولاړ او مچان به یې وشړل. خو مچان زښت ډېر

وو او ډېر سپين سترګي هم وو. مچان به ټول راغلل او د فيلو په څټ کې به کيناستل، طوطي به د فيلو سر خوا ته راغی؛ نو مچان به ټول د لکۍ خوا ته ولاړل، طوطي به همداسې ته او راته.
بيزو چې دا حال وليد؛ نو طوطي ته يې وويل چې زما يې چل زده دی. طوطي فيلو ته وويل: له ونې يوه څانګه را ماته کړه.
فيلو هم خپل خرطوم پورته کړ، له ونې څخه يې يوه څانګه را ماته کړه او بيزو ته يې ور کړه. بيزو د فيلو په څټ کې ناسته وه، د ونې څانګه يې د فيلو په شا ښوروله او مچان يې ترې شړل.
فيلو طوطي ته وويل: پورته شه او والوزه. وګوره چې نږدې ځايونو کې آبادي نشته يا کوم سيند نه ښکاري، چې لږ اوبه وڅښو؟
طوطي پورته والوت، پورته کېده، پورته کېده پورته کېده، طوطي داسې پورته ولاړ، لکه په ښه باد کې چې باډيوې (پتنګ) ته تار ورکړې. يو وخت يې غږ وکړ: هغه دی لرې شنې ونې ښکاري. امکان لري چې ځنګل وي او يا هم کلی.
طوطي چې کله بېرته له هوا نه را ښکته شو، ساه يې لنډه لنډه کېده. فيلو پوښتنه وکړه: ولې داسې ژر ستړی کېږې؟
طوطي ځواب ورکړ: د وزرونو ښکې مې کمزورې شوې دي، کله چې پرواز وکړم؛ نو بيا مې په زړه کې دمه نه وي.
بيزو خو له وړاندې د فيلو پر شاه ناسته وه، طوطي هم کېناست او د ځنګل په لور روان شول.
کله چې ونو ته ورسېدل، له ونو سره نږدې يو ډنډ و. بس بيزو او فيلو دواړو په ډنډ کې ځانونه واچول او طوطي د ډنډ پر غاړه ناست و.
فيلو په ډنډ کې ښه ډېره لامبو وکړه، بيا يې ځان په ختو ککړ کړ او کله چې له ډنډ څخه راووت؛ نو نورې خاورې يې هم پر خپله شا واچولې. طوطي چې

د فیلو دا کار ولید؛ نو خپه شو او فیلو ته یې ویل: گوره پر ځان ختې مه اچوه چې مریضه نشې. انسانان چې کله په ختو کې لاس وهي، ممکن ناروغ شي. انسانان وایي چې په خاوره کې یو ډول میکروبونه وي چې ټیټانوس یې بولي. هغه د انسان وینې ته داخلیږي او پر انسان باندې تبه راځي.
په دې ځای کې ونې وې اوبه وې؛ نو فیلو او ملگرو یې همدلته دمه وکړه او همدلته ویده شول. سهار بیا فیلو ډنډ ته کوزه شوه، ځان یې په ختو ککړ کړ، بیا را ووته او خاورې به یې په خپل خرطوم را اخیستې او پر ځان به یې اچولې.
فیلو بیزو او طوطي ته وویل: بس اوس تاسې بېغمه شئ، مچان نه راځي.
فیلو، بیزو او طوطي په ورځو نه، په میاشتو نه، کلونه مزل وکړ او همداسې مخ پر وړاندې روان وو. کروندې یې مخې ته راغلې، بڼارونه تېر شول او دښتې یې شاته پرېښودې. یوه ورځ داسې ځای ته ورسېدل چې یو لوی سیند یې مخې ته راغی او له سیند څخه د پورې کېدو یوه لاره وه چې پل و او د پله پر سر پولیس ولاړ و.
طوطي بیزو ته وویل: ته به د انسانانو جامې واغوندې، خپل مخ به دې وتړې او پر فیلو باندې به سپره شي، زه به دې شا ته کېنم.
درې واړه بېرته را وگرځېدل.
بیزو ډېره وېرېدلې وه؛ خو فیلو ورته وویل: هېڅ خبره نشته، راځئ.
درې واړه د کلي خوا ته روان شول، د کلي په خوا کې کروندې وې؛ خو د کلي او کروندو ترمنځ فاصله ډېره وه.
طوطي فیلو ته وویل: نن شپه به دا له ځان سره وړو.
فیلو په حیرانۍ سره ورته وکتل او طوطي ته یې وویل: دا خو انسانان دي، دا به موږ څنگه پټ کړو او په دوی به موږ څه کوو؟
طوطي یو ناڅاپه ورته په خندا شو، فیلو ته یې وزر نیولی و او د فیلو خبرې ته

یې خندل.
فیلو پوښتنه ترې وکړه: طوطي ته ولې خاندې؟
طوطي ور والوت، د تور دلي پر سر کېناست، بېرته را والوت، فیلو او بیزو ته راغی.
طوطي ورته وویل: دا انسانان نه دي، دا تور دلي دي.
فیلو په حیرانۍ سره پوښتنه وکړه: دا توردلي نو بیا څه شی شول؟!
طوطي ورته وویل: فیلو، ته لږ ورته ځیره شه. انسانان داسې خوار ډنگر او همداسې آرام درېدای شي؟
که څه هم د ماښام تیاره خوره وه؛ خو فیلو بیا هم د فصلونو منځ ته په ځیر ورکتل. رښتیا هم هېڅ حرکت یې نه درلود. بیا یې له فیلو څخه پوښتنه وکړه: نو دا یې د څه لپاره دلته درولي دي او دا څه شي دی؟
طوطي ورته وویل: دې ته انسانان تور دلی او ډېری خلک په پښتو کې ورته څلی وایي. دا یې موږ مرغانو ته د ډارولو لپاره دلته درولي دي چې فصلونه ونه خورو او فصلونه خراب نه کړو. نور څه نشته، یو دوه لرگیه یې سره تړلي دي، یوه زړه کورتۍ او یا یو کمیس یې ور اغوستی وي چې موږ مرغان ترې ووېرېږو.
فیلو ورته وویل: تاسې مرغان څه چې زه او بیزو یې هم ووېرولو.
چې لږ تیاره شوه؛ نو د کلي په کروندو کې یې توردلیان په نښه کړل چې لږ نوره هم تیاره شوه؛ نو طوطي پاس په یوه دنگه ونه کې کیناست؛ ترڅو څار وکړي چې څوک را نه شي. فیلو او بیزو ولاړل، له توردلیانو څخه یې کالي را ټول کړل او را یې وړل.
کله چې بېرته له فصلونو څخه لرې شول؛ نو فیلو طوطي ته وویل: طوطي! دا د انسانانو څومره چلونه زده دي، څومر هوښیار دي؟
طوطي په خندا ورته وویل: انسانانو درسونه ویلي دي، تجربې یې کړې دي او

داسې شیان یې زده کړي دي.
طوطي په غرور سره وویل: اوس ګوره موږ هم له انسانانو سره وخت تېر کړی او داسې کارونه مو زده کړي دي.
ښه اوس خو مو کورتۍ او کمیسونه راوړل، راځئ چې ویده شو. بیزو او طوطي پورته ونې ته وختل او فیلو پر ځمکه په ولاړې ویده شوه.
سهار وختي ټول ویښ شول، اول یې په یوه بوجۍ کې بوس واچول، دا بوجۍ یې د فیلو په شا کېښوده، بیا یې بیزو ته کالي ور واغوستل او بیزو یې د بوسو پر بوجۍ کینوله. یوه غټه کورتۍ یې و واغوستله چې پولیس داسې فکر وکړي چې پر فیل باندې سړی سپور دی. طوطي یې شا ته کیناست او د پله په لور یې حرکت وکړ. کله چې د پولیسو ځای ته ورسېدل؛ نو پولیسو په بیزو باندې غږ وکړ: ودرېږه، دا فیل چېرې بیایې؟
فیلو چې د پولیسو خبرې واورېدې؛ نو د دوی خبرې ښځي بل ډول وې. پولیسو په بیزو داسې فکر وکړ چې دا ګونډې سړی دی، په فیل سپور دی. بیزو خو د انسانانو په ژبه خبرې نه شي کولای؛ نو د بیزو پر ځای طوطي د بیزو له شا څخه د پولیسو په ځواب کې وویل: دا خو مې د دې هېواد پاچا ته راوستی دی. زموږ پاچا غوښتل چې ستاسې پاچا خوشحاله کړي؛ نو دا فیل یې په ډالۍ کې ورته رالېږلی او دا وظیفه یې ماته را سپارلې.
پولیسو په حیرانۍ سره یو بل ته وکتل او پوښتنه یې وکړه: دا غږ دې څومره نری دی؟
طوطي وارخطا شو او یو ناڅاپه یې له خولې ووتل: دا خو مې خپل غږ له دې فیل سره نیم کړی دی. فیل ډېر غټ و؛ نو ما ته لږ غږ پاتې شو؛ ځکه مې غږ نری دی. ګورئ ما ته وظیفه سپارل شوې چې همدا نن به دا فیل ستاسې پاچا ته رسوم، کنه نو خیر مې نشته.

پولیسو چې دا خبره واورېده؛ نو ډېر خوشحاله شول چې د پاچا لپاره یې په تحفه کې فیل راوستی. سم د لاسه یې اجازه ورکړه چې له پله څخه تېر شي.
فیلو او ملګري یې چې له پله څخه تېر شول؛ نو ډېر خوشحاله وو. کورتی او بوس یې وغورځول. بس همداسې د نقشې او قطب نما له مخې وړاندې روان وو.
په لاره مخې ته ډول ډول څاروي، مرغان، کبان او حشرات ورتلل، خبرې یې ورسره کولې او دوی همداسې په مخ روان وو.
فیلو او ملګري یې ډېر سخت تږي شوي وو. دوی د نقشې له مخې داسې فکر کاوه چې اوس باید نیل سیند ته ورسېږي، دوی ډېر په بیړه روان وو؛ ځکه که لږ نور هم په دې دښته کې پاتې شي، ممکن له تندې مړه شي.
فیلو طوطي ته وویل: پورته والوزه او وګوره چې سیند ته څومره لاره پاتې ده، اوبه ښکاري او کنه. طوطي د دوی پر سر باندې پورته والوت او پورته پورته کېده. هغه به لارې او اوبه پیدا کولې. له پاسه یې فیلو ته چیغه کړه: پیدا مې کړې، لږ وړاندې سیند دی. لږ نور هم همت وکړئ.
فیلو او ملګري یې همداسې روان وو، نور هم وړاندې ولاړل. یو وخت سیند ته ورسېدل، ټول ډېر تږي شوي وو. فیلو پر سیند ور منډې کړې؛ خو کله یې چې خرطوم له اوبو ډک کړ او نورو خولې له اوبو ډکې کړې؛ نو ټولو اوبه بېرته توی کړې. اوبه داسې تروشې وې لکه سم مالګوبې چې دې غرغرې ته جوړ کړې وي.
فیلو طوطي ته وویل: دا د نیل اوبه خو تروشې دي. دا خلک یې څنګه څښي؟
طوطي نقشه راواخیسته او په ځمکه یې خوره کړه. له لږ فکر وروسته یې فیلو ته وویل: دا د سینا دښته ده او دا د نیل سیند نه دی، دا د سویس کانال دی.
د دې خبرې مانا دا ده چې موږ د مصر خاورې ته داخل شوي یو او مصر د اسیا (ایشیا) له لورې چې ورځې، د افریقا لومړی هېواد دی. دا وګوره، دا د افریقا

شمالي برخه ده. اوس موږ دې ځای کې یو.
فیلو په حیرانۍ سره پوښتنه وکړه: دا خو هم د سیند په څېر دی؛ نو کانال یې بیا څه ډول وي؟
طوطي ورته وویل: د انسان په لاس چې اوبو ته د تلو لاره جوړه شي، هغه ته کانال وایي. ما په کتابونو کې لوستي دي، دا د سویس کانال دی، دا پخوا یوه دښته وه، دا د انسانانو په لاس د دوه سمندرونو نښلولو یو کمال دی. پخوا به تجارتي بېړۍ له افریقا څخه تاوېدې او بیا به له څو شپو او ورځو څخه وروسته اروپا ته رسېدې. دا تجارتي کانال سویس جوړ کړ، چې له سور سمندرګي (بحیره احمر) څخه کیښتۍ په لنډه د مدیترانې سمندر ته ورسېږي.
فیلو وپوښتل: څومره غټ! دا یې څنګه جوړ کړی دی؟
فیلو، طوطي او بیزو پر کیښتۍ کېناست و. په دې وخت کې د جنوب له لوري غټه کیښتۍ راښکاره شوه او د دوی په لور را روانه وه. طوطي د کانټینرو په شمېرلو پیل وکړ. طوطي له ځان سره لګیا شو: دوولس کتاره کانټینر یې کیښتۍ اوږدو او پنځه کتاره یې په پلنو ایښي دي چې ۱۲ په ۵ کې ضرب کړې ۶۰ کېږي. اوس چې کانټینرې یو په بل سر څلور کتاره ایښي دي. ۶۰ چې په ۴ کې ضرب کړې؛ نو۲۴۰ کانټینره شول. د دې خبرې مانا دا شوه چې په دې تجارتي بېړۍ کې ۲۴۰ کانټینره بار دي.
فیلو ورته وویل: دا دې څنګه ژر حساب کړل؟
طوطي ورته وویل: دا مې ضرب کړل.
فیلو وپوښتل: دا ضرب څه شی دی؟
طوطي ورته په خندا شو او ویې ویل: ضرب د جمعې لنډې طریقې ته وایي.
بېړۍ په کانال کې د جنوب له لوري راغله او شمال لوري ته لاړه. فیلو طوطي او بیزو ورته کتل.



کیښتۍ شمال لور ته کراره کراره روانه وه. کله چې کیښتۍ له سترګو پناه شوه؛ نو طوطي هوا ته پورته شو؛ څو د کانال دواړه لوري وڅاري چې بله کیښتۍ خو به نه وي را روانه. کله چې ډاډمن شول؛ نو بیزو فیلو ته ور په شاه شوه. فیلو په اوبو کې ځان واچاوه او په کانال کې په لامبو وهلو تېره شوه. کله چې د کانال پورې غاړې ته پورې وتل؛ نو ځانونه یې یو بل ډول احساسول. دوی داسې فکر کاوه چې په پوستکي پورې یې کوم بل پوستکی نښتی دی؛ ځکه چې دوی د سمندر په تروشو اوبو کې ځانونه اچولي وو.
کله چې دواړه له کانال څخه پورې وتل؛ نو طوطي هم ورپسې والوت او له کانال څخه پورې ووت. مخ په وړاندې روان شول. ډېر تېز روان وو. له یوې خوا دوی تږي وو او له بل لوري یوه لویه دښته وه.
طوطي فیلو او بیزو ته وویل: کله چې نیل سیند ته ورسېږو؛ نو بیا به د جنوب په لور حرکت کوو. له کوم لوري چې د نیل اوبه را روانې دي، موږ به د سیند پر غاړه پورته ځو؛ څو د مصر له هېواد څخه تېر شو او سوډان ته داخل شو.
فیلو پوښتنه وکړه: د نیل سیند له سوډان څخه راغلی دی؟
طوطي وویل: د نیل سیند له دې هېوادونو څخه یا تېردونکی دی او یا ترې سرچینه اخلي؛ لکه کینیا، یوګنډا، تانزانیا، کانګو، ایتیوپیا، جنوبي سوډان، سوډان او مصر.
بس ځئ مخ په وړاندې. په دښته کې فیلو روانه شوه. تله، تله، تله... ټول سخت ستړي او تږي وو. په وروستي ځل فیلو له طوطي څخه هیله وکړه چې پورته شي او وګوري چې د نیل سیند ته نه یو نږدې شوي؟
طوطي پورته والوت او تر لرې لرې ځایونو یې وکتل، ناڅاپه یې په شنو ونو سترګې ولګیدې. طوطي چیغه کړه، ورسېدو، نور رسېدلي یو!!! لږ لاره نوره پاتې ده. بس د نیل د غاړې کروندې را ښکاره شوې.

فیلو په کرار کراره روانه وه؛ څو د نیل سیند غاړې ته ځان ورسوي.
کله چې د نیل سیند ته نږدې شول، د نیل په سیند کې دروزې (لوخې) ولاړې وې، فیلو ور ښکته شوه، پر اوبو کې څملاسته او په ځان یې ښې ډېرې ختې ومښلې؛ خو دا ځل طوطي فیلو ته ونه ویل چې ځان مه په ختو کوه چې ناروغه به شې.
مازیګر ناوخته و، طوطي ورته وویل: ستړي یو او ناوخته هم دی، راځئ همدلته به شپه تېره کړو، سبا به له خیره حرکت کوو چې د نیل د سیند پر غاړه پورته سوډان ته ځانونه ورسوو.
درې واړه ملګري دلته دمه شول. طوطي فیلو ته د نیل سیند په اړه معلومات ورکول. ښه تیاره شوه، اسمان له ستورو ډک شو، فیلو ویل: بس دی ویده به شو.
بیزو طوطي ته وویل: مور مې ما ته په سرکس کې کیسې کولې؛ په تاسې کې به یو کس ما ته کیسه وکړئ چې نن خو له کیسې سره ویده شم.
طوطي وویل: زه به یوه کیسه درته وکړم. دا کیسه ما په یوه کتاب کې لوستې وه. د کتاب نوم یې و (د فیل بچی). دا کتاب نصیر احمد احمدي لیکلی و.
فیلو وویل: دا خو به زما کیسه نه وي.
طوطي ورته په خندا شو، نه دا د بل فیل د بچي کیسه ده. ته چې کله زېږه زرغونه پیدا کړې؛ نو پر تا به هم یو څوک کیسه ولیکي. اوس کیسې ته غوږ شئ، تاسې وایئ ښه.
فیلو او بیزو وویل: ښه!
« د فیل بچي له خپلې مور سره یوه نوي ځنګله ته کډه وکړه.
د فیل بچي په نوي ځنګله کې د لوبو لپاره ملګري نه درلودل.
یو سهار یې د هوسۍ، سویې او کارغه بچیان په لوبو ولیدل.

د فیل بچي له هغوی څخه وغوښتل چې دی دې هم ورسره ملګری شي او په ګډه سره به لوبې وکړي.
د کارغه بچی والوت، نارې یې کړې، کاغ، کاغ، کاغ. زه الوتی شم.
د هوسۍ بچي د فیل بچي ته وویل: زه او سوی هم په منډه کې تېز یو؛ خو ته هېڅ کمال نه لرې، ښایسته هم نه یې؛ ځکه دې په لوبه کې نه نیسو.
د فیل بچی خواشینی له هغه ځایه روان شو.
بله ورځ تېز باران وورېد او سېلاب راغی. یوه غټه ونه چپه شوه، اوبه د هوسۍ سوی، او کارغه د بچیانو کورونو ته ور وختې. دوی چیغې وهلې.
ونې د سېلاب د اوبو مخه ونیوه. ناڅاپه د فیل بچی راغی او په خپل خرطوم کې یې ونه لرې کړه.»
کیسه خلاصه شوه، کیسه لاړه غره ته، زه راغلم کاله ( کور) ته. په تاسې کې څوک ویښ دي؟ یوه هم ځواب ور نه کړ. دواړه ویده شوي وو، طوطي هم ویده شو.
فیلو انسانانو ونیوله او غوښتل یې چې غاښونه وباسي. فیلو ښکاریانو ته ډېرې زارۍ وکړې چې غاښونه یې مه باسئ؛ خو ښکاریانو فیلو پر ځمکه څملولې وه او پښې یې ورته په رسۍ تړلې وې، فیلو خپل ټول زور وکړ له ځمکې پورته شوه، ښکاریان یې ټول اخوا دېخوا وغورځول. فیلو چې کله په خپلو پښو ودرېده ؛ پام یې شو چې خوب یې لیده، هېڅ هم نه و. فیلو همغه شان ولاړه لکه ماښام چې ویده کېده. بیزو یې ولیده چې پرته وه. فیلو ته خندا ورغله، ځکه چې فیلان په ولاړه ویده کېږي او بیزو پرته وه. طوطي او بیزو دواړه ویده دي. فیلو خپل خرطوم په خپل مخ وواهه، ویې کتل چې غاښونه یې نه وو شنه شوي.
فیلو ته د خپلې کورنۍ هغه خبرې ور یادې شوې چې کورنۍ یې ورته د مخکنیو دوه غاښونو په اړه کړې وې. فیلو بېرته ویده شوه.

درې واړه سهار وختي پورته شول او د نیل د سیند پر غاړه پورته د جنوب په لور روان شول. د نیل سیند عجیبې منظرې درلودې. کله به کروندې مخې ته راغلې، کله به ښارونه، کله هم وچې دښتې چې له سیند څخه به لوړې وې.
دوی همداسې روان وو. یوه ورځ د ماښام وخت و، دوی غوښتل چې د شپې تېرولو لپاره ځای پیدا کړي. لاره ترې غلطه شوه. په یو ښار کې چې د نیل سیند یې په منځ کې تېر شوی و، پټ پټ روان وو، یو عجیب او غریب ځای ته ورسېدل.
فیلو خپل سر د څټ خوا ته ورتاو کړ او له طوطي څخه یې پوښتنه وکړه: اهوووو، دا څه دي؟!
طوطي ورته وویل: دا هدیره ده.
فیلو بیا پوښتنه وکړه: هدیره څه ته وایي؟
طوطي ورته وویل: انسانان چې کله مړه شي؛ نو بیا په ځمکه کې ورته ځای ژور کړي، چې دوی ورته قبر وایي او په هغه کې یې خښوي.
فیلو ورته وویل: نو دا خو یې پورته پورته جګ کړي دي. تا خو ویل چې خښوي یې، دا خو جګ جګ ولاړ دي لکه غرونه؟
فیلو وویل: دا اهرامونه د فرعونانو د زمانې دي. فرعون یو پاچا نه و؛ بلکې په هغه زمانه کې دلته ۳۲ پاچاهانو حکومت کړی او هر پاچا ته به یې فرعون وایه، یو یې ډېر ظالم و.
په دې درې واړو اهرامونو کې د فرعونانو د پاچاهانو مومیایي شوي مړي ایښي دي. په هغه وخت کې دا سې دود و، چې مړي به یې اول په ململو کې تاوول، بیا به یې په موم باندې پوښل، چې جسد خراب نه شي.
تاسې پوهېږئ چې د نړۍ له اوو عجایبو څخه یو یې همدا اهرامونه دي.
دا د مصر تر ټولو ښه ځای دی. ښه په دې دی چې د نړۍ له هر کونج نه دلته

خلک د دې اهرامونو لیدو ته راځي.
دومره کلونه تېر شول، بیا هم په دې راز څوک پوه نه شول چې دا اهرامونه څنګه جوړ شوي او تر شا یې کومه معما پټه ده.
د دې لوی هرم نوم خوفوس دی. په دې کې اته لارې شته او درې خونې دي، چې په یوه خونه کې یې د پاچا تابوت اېښی دی او په بله کې یې د ملکې تابوت اېښی او درېیمه خونه یې د هغو غلو د تېر ایستلو لپاره جوړه کړې چې د پاچا او ملکې له تابوتونو څخه شیان پټ نه کړي؛ ځکه پخوا به د مصر خلکو له مړو سره ډېر قېمتي شیان یوځای کېښودل؛ له سرو او سپینو زرو یې پر تابوتونو ګلان جوړول.
ویل کېږي چې اهرامونه د حضرت عیسی علیه سلام له پیدا کېدو (۲۵۰۰)



کال مخکې جوړ شوي دي. یعنې له نن څخه (۴۵۰۰) کاله وړاندې.
ته پوهېږې چې دا خوفوس هرم (۱۴۰) متره لوړوالی لري. دویم یې له دې څخه لږ وړوکی دی، د دې نوم خفرع دی. په دې هرم کې بیا خونې کمې دي. هغه بل بیا له ټولو کوچنی دی، د هغه نوم منقرع دی او داسې په سلګونه نور واړه اهرامونه شته. اوس؛ خو ماښام دی تیاره شوې، راځئ همدلته به شپه وکړو، سهار به نور واړه اهرامونه درته و ښیم.
دوی وړاندې لاړل، هلته یو لوی زمري ته ورته شی و. فیلو له طوطي څخه پوښتنه وکړه: دا څه دي؟
طوطي ورته وویل: دا ابولهول دی، دا یې هم له تیرې څخه جوړ کړی.
فیلو پوښتنه وکړه: د دې شکل خو زموږ د سرکس د زمري په شان دی.
طوطي وویل: هو، اوس ناوخته دی، سبا به بیا نور هم وګرځو.
دوی همدلته ویده شول.
سهار چې له خوبه راویښ شول، ډېر زیات خلک راغلي وو. ټولو د دوی عکسونه اخیستل، دوی هم منډې کړې او وتښتېدل.
طوطي د فیلو پر څټ ناست و او بیزو یې په څنګ کې روانه وه. درې واړه د یوه ځنګله په منځ کې پورته روان وو. اوس د نیل سیند غاړه نه وه، ځکه دوی اوس له نیل سیند څخه لرې شوي وو.
کله کله به طوطي پورته د هوا په لور والوت، لاره به یې وکتله او بېرته به راغی، د فیلو په څټ کې به کېناست.
ټوله ورځ یې مزل وکړ. مازیګر له ځنګله نه یوې دښتې ته ووتل؛ خو دښته شنه وه. فیلو ښه په مړه ګېډه واښه وخوړل. ماښام شو، دوی همدلته په میداني کې ویده شول.
فیلو، طوطي او بیزو درې واړه ویده وو چې زوروره دربا یې واورېده. وارخطا

راپورته شول، ویې لیدل چې په دښته کې لرې یو خړ ګرد د دوی په لور را وران و. کله چې لږ را نږدې شو؛ نو داسې یو جال ډوله شی یې تر سترګو شول چې ټوله دښته یې نیولې وه. فیلو خپلې سترګې ومښلې؛ خو په نظر کې یې توپیر را نغی.

همغه شان جال د دوی په لور را روان و. بیا یې له بیزو څخه پوښتنه وکړه چې دا څه دي؟ جال ډوله شی دوی ته راورسېد، دوی درې واړه یې په منځ کې راګیر شول او له دوی څخه تېر شو. دا ډول ځیزونه راتلل او تېرېدل، راتلل او تېرېدل، هېڅ نه خلاصېدل. ښه ډېر وخت تېر شو او داسې دوړې یې جوړې کړې وې چې دوی یو بل نه لیدل. بالاخره دوړې کمې شوې، په اخر کې یو خر چې بېخي بل ډول و را روان و؛ خو ډېر ستړی شوی و. له دوی سره ودرېد، فیلو ترې پوښتنه وکړه: سلام، دا څه وو؟ خره ورته وویل: دا خو مونږ وو کنه. ته څنګه فیل یې چې مونږ نه پېژنې؟

فیلو ورته وویل: سلام، زما نوم فیلو دی او تاسې څوک یاست؟

خره ورته وویل: زما نوم ګړندی دی. ما ته ځکه ګړندی وایي چې زه له ټولې ډلې وروسته پاتې کېږم او زه د زیبرا (zebra) د ډلې غړی یم. دا اوس چې کومه ډله تېره شوه، دا زمونږ او د غویو ډله وه.

فیلو له خره څخه تاو راتاو شوه او بیا یې له طوطي پټه پوښتنه وکړه: دا څنګه یې ځان جوړ کړی دی؟

طوطي هم په دې خبره نه پوهېده؛ نو له ګړندي څخه یې پوښتنه وکړه: ډېر ښکلی موډ (سټایل) دې جوړ کړی. داسې موډ په تاسې کې رواج دی که څنګه؟

ګړندی ورته په خندا شو او ویې ویل: مونږ ټول همداسې یو رنګ خدای پیدا کړي یو.



مـوږ خـدای پـاک ځکـه بـرگ بـرگ پیدا کـړي یو چـې داړونکـو ځناورو تـه زموږ ډلـه جـال جـال پـه نظـر ور شي او ځنـاور مو ښـکار نـه شي کړی.
فیلو وویل: ښه، ځکه لږ مخکې ما ته دښته د جال په شان ښکارېده.
فیلـو ورتـه وویـل: مـوږ لـه لـرې دلته راغـلي یو، کنـه دا زمـوږ د نیکـو وطن دی. اوس غـواړو چـې زامبـي سـیند پیـدا کړو او هلتـه د وکټوریا ابشـار ته ورشـو.
گړنـدي ورتـه وویـل: دا خـو اسـان کار دی. زه هـم لـه تاسـو سره ملگـری کېږم؛ خـو گـورئ زمـا منډې نـه خوښـېږي، پـه کراره بـه ځئ.
طوطـي نقشـه خـوره کـړه او ورتـه کتـل یـې. گړنـدی ور وړانـدې شـو او ورته یې وویـل: د دې سـیمې نـوم یوگښـدا دی. تـه یـې په نقشـه کـې وگوره.
طوطـي نقشـې تـه کتل او په نقشـه یـې خپل وزر گرځـاوه. په یوه نـوم یې گوته کېښـوده او گړنـدي تـه یـې وویـل: دا دی په نقشـه کـې یې نوم دلتـه دی، پیدا مـې کـړ، اوس مـوږ دلته یو.
گړندي وویل: راځئ چې ځو!
ټـول روان شـول. گړنـدي مـخ فیلـو تـه واړاوه او پوښـتنه یـې تـرې وکـړه: ولـې، هلتـه زېـږه زرغونـه نـه وه چـې تاسـې تـر ویکټوریـا ابشـار پـورې ځـئ ؟
بیـزو طوطـي تـه وکتـل او بیا یـې وویل: اجازه ده چې زه ستاسـو کیسـه گړندي تـه وکـړم؛ ځکـه اوس گړندی هم زمـوږ ملگری دی.؟
طوطـي پـه سـترگو کې ورته اشـاره وکـړه، مانا دا چې کیسـه مه ورتـه کوه؛ ځکه هغـه کیسـه خـو یـو راز دی؛ خـو فیلـو ورتـه وویـل: نـه پرېـږده چـې کیسـه ورته وکړي.
بیـزو پـر گړنـدي سـپره وه، ورتـه یې وویل: زه به د فیلو پر شـا کېنـم، ته به راسره پـه ځنـگ کـې ځـې، زه بـه درته کیسـه کـوم. گړنـدی ودرېـده، بیزو لـه گړندي ښـکته شـوه او فیلـو خپـل خرطـوم ورتـه راښـکته کـړ، بیزو پـرې پورته شـوه او د



فیلـو پـر شـا کېناسـته. ګړنـدي تـه يې وويل: کيسـه داسـې ده، ته وايه ښـه!
ګړندي ورته وويل: ښه!
يـوه ورځ فيلـو پـه سرکـس کـې د جالـۍ پـه منـځ کـې ګرځېـده. طوطـي راغـی او د جالـۍ پـر سر کېناسـت، فيلـو تـه يې شـپيلک وواهـه. فيلو چـې ور وکتل، طوطـي ورتـه اشـاره وکـړه. فيلـو د طوطـي خـوا تـه ورغلـه، طوطـي ورتـه وويـل: زېـری مـې دربانـدې، يـو نـوی خـبر درتـه لـرم؛ خـو اول دا راتـه ووايـه چـې پـه زېـري کـې بـه څـه راکوې؟
فيلـو پـه ډېـرې خوشحالۍ پوښـتنه وکـړه: څـه نـوی خـبر راتـه لـرې، د څـه پـه اړه دی؟
طوطـي ورتـه وويـل: پـه يـوه مجلـه کـې مـې ولوسـتل چـې مېږيـان د بـاران لـه وريـدو شـپږ ساعته مخکـې خبرېـږي چـې بـاران ورېـږي.

فيلـو چـې سـهار لـه خوبـه پاځېـده، طوطـي يې لـه ځـان سره ملګری کـړ او پـه مېږتـون پسـې پـه ګرځېـدو شـول. يـوه خـوا بلـه خـوا يـې ډېـر ځايونـه ولټـول؛ بالاخـره يـې د چمـن پـه منـځ کـې د مېږيانـو مېږتـون پيـدا کـړ. يـو مېـږی يـې وليـد چـې د خـوړو يـوه ټوټـه يـې پـه خولـه کـې نيولـې وه او د مېـږي پـه پرتلـه دوه برابـره غټـه وه. مېـږي بيـا هـم هڅـه کوله چـې د خـوړو ټوټه کـور ته يوسي.
فيلـو پـه چمـن کـې د مېـږي مخې ته په ګونډو شـوه او سر يـې ور ټيټ کـړ. يوه سـترګه يـې مېـږي تـه ور وړاندې کړه او ورته يې وويل: اسـلام عليکـم کاکا، زما نـوم فيلـو دی او دا زمـا ملګری طوطي دی. سـتا نوم څه دی؟
مېږي د خـوړو ټوټـه پـر ځمکـه کېښـوده او فيلـو تـه يـې وويـل: تـه دومـره لويه شـوې يـې او پـه دې نـه پوهېـږې چـې زه ماشـوم يم، ايلـه د يوې مياشـتې يم او تـه مـا تـه کاکا وايې.

فیلو مېږي ته حیران حیران کتل او طوطي له خندا پر ځمکه ورته رغښته.
فیلو له یوه لوري حیرانه وه او له بل لوري د طوطي خندا ډېره غوسه کړې وه.
فیلو له مېږي څخه د مرستې غوښتنه وکړه؛ خو مېږي ورته وویل: زه خو ماشوم یم، نه پوهېږم چې تاسې سره به مرسته وکړی شم که نه. تاسې یو بل مېږي سره خبرې وکړئ.
طوطي لا همغسې خندل. فیلو مخ په وړاندې په چمن کې ولاړه او د نورو مېږیانو د لټولو کوښښ یې کاوه. ناڅاپه یې یو بل مېږی ولید چې لږ غټ و او د وښو یو ډکی یې په خوله کې نیولی و. فیلو طوطي ته غږ کړ، طوطي همغسې خندل او د فیلو خوا ته را روان و.
فیلو بیا په ګونډو شوه او خپله یوه سترګه او یو غوږ یې مېږي ته ور نږدې کړل. مېږي ته یې اشاره وکړه او طوطي ته یې وویل: دا وګوره، دوی هم واښه خوري. تا به هر وخت په مور پورې خندل چې تاسې واښه خورئ.
مېږی ودرېده، د وښو ډکی یې پر ځمکه کېښود او فیلو ته یې وویل: موږ مېږیان واښه نه خورو. دا واښه تر ځمکې لاندې جمع کوو چې مرخېړې ترې جوړ شي، بیا مرخېړې خورو.
فیلو مېږي ته وویل: وبښه ماشومه، ما فکر کاوه چې تاسې هم زموږ په شان واښه خورئ.
مېږي په غوسه ورته وویل: دومره لویه شوې یې؛ خو دومره سپین سترګې یې چې یوه مشر ته ماشوم وایې.
فیلو وارخطا مېږي ته وویل: بښنه غواړم، ته به اوس څو کلن یې؟
مېږي ورته وویل: زه به اوس د درېیوو کالو یم. بس یو څو میاشتې به نور یم یا به نه یم؛ ځکه ښایي په دې لنډو ورځو کې زما وزر وشي او وابه لوزم.



فیلو طوطي ته مخ ور وګرځاوه او له طوطي څخه یې ګیله وکړه: ګوره طوطي، تا ما ته هیڅ وخت د مېږیانو د عمر او الوتلو په اړه څه نه وو ویلي.
فیلو له مېږي وپوښتل: بس همدومره عمر، ایله درې کاله عمر لرئ؟
مېږي فیلو ته وویل: نه، زموږ د مېږیانو عمر له یو کال څخه تر درېیو کلو پورې وي. بیا مو وزر شنه کېږي او الوزو. پښتانه یو متل کوي: ((د مېږي چې ورکه راشي؛ نو وزر یې وشي.))
مېږي د وښو ډکی چې لږ وړاندې یې پرځمکه اېښی و، له لارې لږ څنګ ته کړ او زیاته یې کړه: زموږ ملکه وایي، کوم مېږیان چې الوتي دي، تر اوسه بېرته خپل کور ته نه دي راغلي. نو الوتي مېږي چې بېرته نه دي راغلي، ضرور به مړه شوي وي. کومه خبره چې ملکه وکړي؛ نو د شک ځای پکې نه پاتېږي؛ ځکه زموږ په کورنۍ کې هغه تر ټولو مشره ده، ډېر عمر لري او د مېږیانو ملکې تر دېرش کلنۍ پورې ژوند کوي.
فیلو له مېږي څخه د دې لپاره بښنه وغوښته چې دې ورته ماشوم ویلي وو او بیا یې د هغه ماشوم مېږي کیسه ورته وکړه چې لږ وړاندې فیلو ورسره مخ شوی وه چې د خوړو یوه ټوټه یې په خوله کې وه.
مېږي ورته وویل: مه پسې ګرځه؛ خو ودې نه ویل، چېرې روانه یې؟
فیلو مېږي ته وویل: نه پوهېږم چې ته به له موږ سره مرسته وکړې که نه؟
مېږي ورته وویل: ووایئ وګورم چې زه درسره مرسته کولای شم او کنه.
فیلو مېږي ته وویل: اول خو دا راته ووایه چې له وښو څخه څنګه مرخېړي جوړېږي او بیا یې تاسې خورئ؟
مېږي ورته وویل: یو یا دوه حجروي ژوي دي، په سترګو نه لیدل کېږي چې فنګس(Fungus) نومېږي. په غارونو کې له موږ سره ژوند کوي. کله چې موږ واښه او نور خوراکي توکي جمع کړو؛ نو یو ځو ورځې یې پرېږدو چې فنګس

(Fungus) پرې خواره شي او خوراک پیل کړي. کله چې فنگس په ټولو خوراکي توکو خواره شي؛ نو بیا له خوراکي توکو څخه او هم د باران د وریدو په سبب ترینه مرخېړي جوړېږي. کله چې مرخېړي جوړ شي؛ نو موږ یې بیا خورو.

طوطي مېږي تـه وویـل: اوس اصـلي خـبرې ته راځـم، غـواړم د بـاران د ورېدو پـه اړه موږ تـه معلومـات راکړي.

مېږي لـه طوطـي څخـه پوښـتنه وکـړه: نـو زه څـه مرسـته وکـړم؟ بـاران خـو لـه پاسـه راځـي. لکـه مخکـې مې چې وویـل کومو مېږیانـو چې وزر کـړي او تللي، هېـڅ وخـت بېرتـه نـه دي راغـلي چـې مـوږ د بـاران پـه اړه ترې پوه شـو.

فیلـو مېـږي تـه وویل: طوطـي په یوه مجله کې لوسـتي وو چې مېږیـان د باران له ورېدو شـپږ سـاعته مخکې خبرېږي چې بـاران را روان دی.

مېږي په حیرانۍ سره پوښتنه وکړه: مجله څه شی وي؟

طوطـي مېـږي تـه ور وړانـدې شـو او ویـې ویـل: انسـانان پـر کاغـذ معلومـات لیکـي چـې نـورو تـه یـې ورسـوي. د معلوماتـو رسـولو گڼـې وسـیلې لـري چـې هـرې یـوې تـه یـې بېل بېـل نومونـه ټاکلي دي؛ لکـه کتـاب، ورځپاڼـه، مجله، رسـاله او داسـې نـور. خـو د مجلې تعریـف داسـې دی: مجلـه عـربي کلمـه ده چې معنـا یـې د پـاک شـوي او ځلېـدل شـوي څخـه عبـارت ده. پـه انگلېـسي کـې ورتـه مگزیـن((magazine ))وایـي.

مېږي ورتـه وویـل: مننـه چـې زمـا معلومات مـو زیات کـړل؛ خو مېږیان داسـې کومـه ځانگـړې وړتیـا نـه لـري چـې د بـاران وړاندوینـه وکـړي. دا هسـې یـوه انگېرنـه ده چـې انسـانان یـې کـوي. فیلـو او طوطـي لـه مېږي څخه خـدای پـه امـاني واخیسـته او د سرکس پـه لـور روان شـول.

فیلـو غلـې روانـه وه؛ خـو طوطي، بیزو او گړنـدی د فیلو دې کیسـې ته له خندا شنه وو.

بیزو وویل: ګړندیه! داسې نه ده چې موږ هلته زیږه زرغونه نه ده لټولې. ټول ځایونه مو پسې کتلي دي.
دوه ورځې او درې شپې تېرې شوې. اوس فیلو او ملګري یې د دښتې اخر ته رسېدلي وو. څلور ملګري سره یو ځای مخ په وړاندې په ځنګل کې روان وو. ګړندی مخکې او فیلو ور پسې، طوطي د فیلو په سر ناست و او بیزو پر کړندي سپره وه. مازیګر مهال و. ټول ډېر تږي شوي وو، فیلو وویل: زه د اوبو بوی حس کوم.
یو ساعت مزل یې نور هم وکړ چې بالاخره د زامبي سیند غاړې ته ورسېدل. په سیند کې رڼې اوبه روانې وې؛ خو کمې وې. لږ مخکې ولاړل، یو ډنډ یې پیدا کړ. ټولو اوبه تري وڅښلې. دا اوبه د نیل له سینده رڼې وې. فیلو ورښکته شوه او پکې څملاسته. دوی تر ماښامه همدلته وو.
سهار وختي د زامبي سیند پر غاړه مخ پورته روان شول. بیا هم طوطي د فیلو پر سر ناست و او بیزو به کله په ګړندي سپره شوه او کله به یې هم د دوی په منځ کې ټوپونه وهل. درې ورځې همداسې پورته روان وو. یوه ورځ یو ځای ته ورسېدل. ډېره سخته ورېځ راغله او باران شو. په اسمان کې داسې زوروره تالنده راغله.
ټول وېرېدل، په ځنګله کې یوه خوا بله خوا ګرځېدل، اخر یې یو غټ کمر ولید. تر کمره لاندې له باران څخه پټ شول. کمر په لوړه سیمه کې و، لاندې د ځنګله ډېره سیمه ورته ښکارېده. یوه د رڼا شغله به راغله او پر ځمکه به ولګېده، بیا به ورکه شوله.
فیلو له طوطي څخه پوښتنه وکړه: طوطي، تا خو ډېر کتابونه لوستي دي، ولې داسې کېږي؟
طوطي ورته وویل: ساینس پوهان وایي چې دا له دوه چارجونو څخه منځته

راځي. دا چارچونه د وریځو یو کنډک د وریځو له بل کنډک سره د لګېدو او پر بله وریځ له ښویېدو څخه وروسته برېښنا منځ ته راځي. داسې فکر وکړئ، تاسې د شپې پرمهال د خوب پر کمپله یا پاکو جامو باندې په تیاره کې لاس تېر کړئ؛ نو تاسې ته به یو ډول بڅرکي تر سترګو شي، نور لاملونه هم شته چې له نورو لارو ترې برېښنا منځ ته راځي.

کله چې په یوه سیمه کې ډېره وچکالي راشي او هلته له باران مخکې برېښنا وشي؛ نو په ځنګله او دښته کې د برېښنا له امله اور لګېږي. هغه ځای چې د برېښنا چارج په ځمکه ولګېږي، هغه ته تندر وايي.

بیزو پوښتنه وکړه: په دې دومره لاره خو بارانونه نه وو، اوس ولې شروع شول؟

طوطي ورته وویل: دلته خو ځنګل دی، په ځنګلي سیمو کې بارانونه ډېر کېږي.

ګړندی دې خبرې ته ډېر حېران شو. کله چې باران ورېږي؛ نو په ټولو ځایونو کې نه ورېږي. دلته خو له څلورو ورځو را په دېخوا بارانونه کېږي.

ګړندي له طوطي څخه پوښتنه وکړه: په ځنګله کې نور څه کمالونه شته چې ډېر باران پکې کېږي؟

طوطي وویل: د ونو موجودیت ډېر مهم دی. ونې کاربن ډای اکسایډ خوري او موږ ته اکېسجن برابروي. د سېلابونو د راوتو مخه هم نیسي. د ځمکې له ښویېدا منخنیوی کوي. د اوبو په زېرمه کولو کې له ځمکې سره مرسته کوي، مرغان پکې ځالې جوړوي، حیوانات او مرغان ترې ځانونه مړوي.

بیزو وویل: زه چې کله خپل هېواد ته ورسېږم؛ نو یو څو ونې به ضرور ږدم. چې ونې غټې شوې؛ نو ځان ته پکې کور جوړوم. په یوه ونه کې ټال هم اچوم.

فیلو او طوطي ورته وخندل. نري نري باران ورېده، دوی بیا روان شول.

که څه هم د مرغانو او حیواناتو غږونه تر غوږو کېدل؛ خو یو ناڅاپه یو ډول شور شو. فیلو او ملګرو یې غوږ ونیو. د حیوناتو او مرغانو غږ بدل شو. د حیواناتو او مرغانو په غږ کې د سېلاب اواز اورېدل کېده. فیلو او ملګري یې د سیند له غاړې لږ پورته وختل. یو ناڅاپه په سیند کې ډېرې اوبه راغلې. سیند ساعت په ساعت ډکېده او د دوی پښو ته اوبه ور نږدې کېدې. ملګرو غږ وکړ چې پورته د غونډۍ په خوا منډې کړئ. ټول پورته وختل.

طوطي وویل: ملګرو، داسې ښکاري چې د څلورو ورځو بارانونو له وجې سېلاب راغلی.

سېلاب ښکته روان و او دوی پورته. د سېلاب خړې اوبه غونډۍ غونډۍ اوښتې. په اوبو کې یو نیم حیوان او حشره هم سېلاب په مخه کړي وو.

پنئەم ڤپرکی

# د ویکټوریا ابشار



د ویکټوریا ابشار ته د راتګ نن څلورمه ورځ وه. طوطي ارام ویده و؛ نو فیلو او بیزو دواړو غوښتل چې لږ چکر ووهي. د ابشار په شاو خوا کې د انسانانو واړه واړه هوټلونه هم وو.
دلته فیلو او بیزو ته هېڅ ډول خطر نه و؛ ځکه له دوی پرته دلته ډېر حیوانات نور هم ازاد ګرځېدل را ګرځېدل. د رېل ګاډي پټلۍ، سړک او د سیند پر سر یو پل هم و. د پله په یوه سر کې یو بیرغ ځوړند و او د پله په بل سر کې بل ډول بیرغ و. له فیلو او بیزو سره دا پوښتنه پیدا شوه چې دا ولې؟
فیلو راغله، طوطي یې له خوبه راویښ کړ او له ځان سره یې د پله په لور روان کړ. طوطي په لار زنګېده او فیلو ته یې وویل: داسې ښه خوب مې وکړ او کله چې مې سترګې وغړولې؛ نو په خپل وطن کې وم، ډېر خوند یې وکړ.
دواړه پله ته ورسېدل.
فیلو له طوطي وپوښتل: دا د بیرغونو رنګونه څنګه فرق کوي؟
طوطي ورته وویل: موږ چې کوم ځای کې ولاړ یو، دا زمبابوې هېواد دی. د پله هغه لوري ته د زامبیا هېواد دی؛ ځکه یې بیرغونه فرق لري او په دې لوحه یې د ویکټوریا د ابشار په اړه معلومات لیکلي دي.
طوطي فیلو ته وویل: ته راشه تر دې لوحې لاندې ودرېږه، زه به دې په شا کېنم او لوحه به درته ولولم.
فیلو خپل خرطوم ښکته کړ او طوطي یې پرې پورته کړ. بیزو او ګړندی لاندې ورته ولاړ وو.
طوطي وویل: پر لوحه یې لیکلي دي چې دا ابشار ۱۰۸ متره لوړ دی یعنې هاغه لاندې ببخ کې چې کوم ځای اوبه په ځمکه لګېږي، په یوه ثانیه کې ۱۰۸۸ متر مکعبه اوبه لاندې توییږي، عرض یې تقریباً ۱۶۸۸ متره دی.
طوطي فیلو ته وویل: فیلو ته پوهېږې، متر مکعب څنګه معلومېږي؟ مثلاً فرض کړئ هغه د هوټل کوټه ده، د کوټې سور څلور متره دی او د کوټې اوږدوالی

ﭘنځه متره دی. اوس چې څلور په ﭘنځو کې ضرب کړې شل ترې جوړېږي؛ نو داشل چې موږ ته د ضربولو څخه لاس ته راغلي، دا باید د کوټې په لوړوالي کې ضرب کړو؛ مثلاً د کوټې جګوالی څومره دی. درې متره چې په شلو کې ضرب کړې؛ نو شپېته کېږي، یعنې چې یوه کوټه شپېته متر مربع اوبه ځایولی شي.

فیلو له طوطي څخه ﭘوښتنه وکړه چې دا زرغونه ولې نه ښکاري. طوطي هم خپه دی چې له دومره لرې څخه راغله؛ خو زېړه زرغونه یې ﭘیدا نه کړه. بیزو ورته مشوره ورکړه چې یوه ورځ نور هم صبر کوو. که نه وه؛ بیا د سرکس په لور حرکت کوو، بېرته خپلو کورنیو ته ځو. دوی ولاړل چې لږ چکر ووهي او وګرځي. تر لرې لرې وګرځېدل چې بېرته ابشار ته راغلل؛ نو د ابشار اوبه رڼې شوې وې.

فیلو، طوطي او ګړندي له لرې څخه یوه ونه ولیده. دوی هلته ولاړل، سیوري ته کېناستل. بیزو د ابشار پر غاړه په کمره ناسته وه او لاندې یې ابشار ته کتل.

مازدیګر مهال و، بیزو د ملګرو خوا ته منډې وهلې، طوطي او فیلو ته یې زېری راوړ چې زېړه زرغونه راختلې ده. ګړندی مخکې، فیلو ورپسې، طوطي په هوا او بیزو له ټولو وروسته د ابشار په خوا کې روان شول. کله چې ابشار ته ورسېدل؛ نو هلته زېړه زرغونه نه وه. فیلو په بیزو شک وکړ چې دا یې هسې په فیلو ملنډې ووهلې؛ خو بیزو په خپله خبره ولاړه وه او ویې ویل چې له دې ځایه یې زېړه زرغونه ولیده، هاغه مخامخ ځای کې وه.

طوطي ﭘوښتنه ترې وکړه: تا چې زېړه زرغونه ولیده؛ اوس څه شوه، کومې خوا ته لاړه؟

فیلو او طوطي ﭘرې شکي وو. دوی فکر کاوه چې هېڅ یې نه دي لیدلي، بس هسې ټوکې کوي.

ټول بېرته ډېر خپه او چپ روان شول؛ خو بیزو هم خوشحاله معلومېده او هم

یې فیلو ته قسمونه خوړل چې زېړه زرغونه یې لیدلې ده. فیلو او طوطي د بیزو په خبره کله یقین کاوه. بیزو له دوی څخه مروره شوه او پاس په ونه کې ویده شوه.
شپه تېره شوه، دوی سهار بیا لاړل؛ خو زېړه زرغونه نه وه. بس ټولو نوبت واچاوه او په نوبت باندې یې زرغونې ته پیره کوله. بیزو له خپلو ملګرو خپه وه، ځکه چې بیزو زېړه زرغونه لیدلې وه؛ خو ملګرو پرې باور نه کاوه. له همدې کبله بیزو څوکۍ (پیره) هم نه کوله. څو وارې فیلو، طوطي او ګړندي د څوکۍ وار تېر کړ. مازدیګر مهال و چې یو ناڅاپه ګړندي نارې کړې چې هلئ زېړه زرغونه ده.
فیلو او طوطي هم ورته رامنډې کړې. ټولو زېړه زرغونه ولیده. فیلو چې وکتل؛ نو له زیړې زرغونې څخه ټوپ وهل نا ممکن و؛ ځکه زېړه زرغونه په داسې یو ځای کې وه چې لاندې ژور ګړنګ و. نو په دې فکر کې شوه چې څه وکړي؛ څو له زېړې زرغونې ټوپ واچوي.
طوطي ورته وویل: راځئ چې بیزو راولو. هغه به یې هم وګوري چې زېړه زرغونه په رښتیا هم شته ده.
کله چې یې بیزو راوسته؛ نو زېړه زرغونه ورکه شوې وه.
فیلو او طوطي په دې پښېمانه وو چې وړمه ورځ یې د بیزو خبره نه وه منلې. اوس نو د بیزو وار و. له طوطي څخه یې پوښتنه وکړه: کومه ده، زرغونه چېرته ده؟ فیلو او طوطي بیزو ته زېړه زرغونه وښودله او له بیزو څخه یې بښنه وغوښته.
طوطي فیلو ته وویل: اوس باید داسې پلان جوړ کړو چې څنګه له زېړې زرغونې واوړي.
طوطي وویل: په دې خو پوه شوو چې زرغونه په مازدیګر کې وي، بس سبا ورځ به ورسره ګورو.

بالاخره سبا شو، د زیړې زرغونې وخت راغی. دوی که هر څومره فکر وکړ؛ نو کومه نتیجه یې ورنه کړه. ګړندي وویل: داسې به وکړو، یو ټال به واچوو او فیلو به پکې کېنوو، ټال به ورکړو. کله چې ټال د ابشار منځ ته ورسېږ؛ نو فیلو دې له ټال څخه ځان وغورځوي، دا به له زېړې زرغونې اخوا وغورځېږي.
د ګړندي دې خبرې ته ټولو وخندل. ګړندي خپل غوږونه بوڅ کړل، بیزو او طوطي ته یې وکتل.
طوطي ورته وویل: دا ټال به په څه کې اچوې، دلته خو نه ونې شته اونه کوم بل شی؟
ګړندي خپله ماتې ومنله او ویې ویل: زه بښنه غواړم، دې خبرې ته زما بېخي پام نه و.
فیلو له طوطي څخه پوښتنه وکړه: موږ ډېر په لوړ غږ خبرې نه کوو؟ موږ خو داسې خبرې چېرې نه کولې.
طوطي په خندا ورته وویل: د ابشار غږ ډېر لوړ دی، موږ ځکه داسې په لوړ غږ خبرې کوو؛ ترڅو یو بل پوه کړای شو.
بس هسې هم ماښام و، زرغونه ورکه شوه، دوی هم لاړل یو ځای یې شپه تېره کړه، غوښتل یې سهار بیا ابشار ته راشي او زرغونه وګوري.
فیلو او ملګري ټوله ورځ زېړې زرغونې ته تېره کړې وه او ټوله ورځ یې په همدې فکر کاوه چې څنګه به له زرغونې اوړي. ټولو دا ارمان کاوه چې کاش زرغونه په دې وچه ځمکه را ښکاره شي. په همدې فکرونو کې مازدیګر شو او زرغونه راښکاره شوه.  فیلو طوطي ته داسې په غور سره کتل. طوطي فیلو ته وکتل او بیا یې خپل وزرونه د نه په مانا فیلو ته وښورول او ورته ویې ویل: نه فیلو، دا کار زه نه شم کولای نه، نه، نه، داسې نه کېږي.
فیلو ورته وویل: اوس یوازې ته دا کار کولی شې چې له زېړې زرغونې څخه واوړې.

طوطي خپل وزرونه د نه په مانا ښورول او په شا روان شو. په اخر کې یې فیلو ته وویل: گوره فیلو، نه غواړم چې له ما څخه طوطۍ جوړه شي.
فیلو ور نه هیله وکړه او ورته یې وویل: اوس ته زما لهپاره دا کار نه شې کولای، له کوم ځای څخه دلته راغلو او اوس چې مو دلته زیړه زرغونه پیدا کړه؛ نو ته یوازې یو ځل ترې واوړه.
طوطي وویل: که له ما څخه طوطۍ جوړه شي؛ نو زه به څه کوم؟
فیلو ورته وویل: خیر ببرته به ترې بل لور ته ټوپ کړې؛ نو ببرته به نر شې.
بیزو، زیبرا ( گړندي) او فیلو درېواړو په لوړ غږ وویل: طوطي، طوطي ، طوطي، طوطي!!! طوطي چې د ملگرو تشویق ولید؛ نو پرواز ته یې ځان تیار کړ او والوت. طوطي همداسې ولاړ، تله، تله، تله... له زرغونې څخه بل لور ته واوښت. یوه دوره یې ووهله، ببرته راغی او د ملگرو له خوا لړ لرې په ځمکه کېناست او خپل وزرونه یې د خپل نامه تر



غوټۍ لاندې د پښو په منځ کې داسې نیولي وو چې ته به وایې یو څه پټوي. فیلو وارخطا شوه، په زړه کې ور تېره شوه چې دا مې څه وکړل. زه خو فیل نه شوم، له طوطي مسکین څخه مې طوطۍ جوړه کړه.

د ګړندي له حیرانۍ څخه خوله خلاصه پاتې وه. بیزو خپلې سترګې په خپلو لاسونو پټې کړې وې. یو ناڅاپه طوطي په کړس کړس وخندل او ویې ویل: څنګه مې ټول و وېرولئ!

فیلو ور منډې کړې او له طوطي څخه یې وپوښتل: رښتیا وایې، په تا هېڅ هم ونه شول.

طوطي ورته په خندا وویل: دا وګوره، زه همغه ستا ملګرې طوطي یم، په ما هېڅ نه دي شوي. تاسې زه ولیدم چې له زرغونې څخه واوښتم؟

ټولو په یوه غږ سره وویل: هو، موږ ولیدې.

طوطي ورته وویل: خو زه چې هلته زرغونې ته نږدې شوم؛ نو هلته هېڅ نه وو. کله چې بېرته دلته راغلم، زرغونه بیا را ته ښکاره شوه.

طوطي بیا والوت، له زرغونې څخه واوښت او بېرته راغی. فیلو ته یې وویل: ګوره چې هلته ولاړه شې؛ نو زرغونه ورکېږي.

فیلو وویل: د دې خبرې مطلب دا دی چې زیړه زرغونه طبیعي پدیده ده، چې د ځو شیانو له یو ځای کېدو څخه منځ ته راځي. مثلاً د ابشار بخار دی، د لمر وړانګې دي. راځئ چې زه تاسې ته دلته زیړه زرغونه جوړه کړم.

فیلو لاړه او خرطوم یې له اوبو څخه ډک کړ. طوطي، بیزو او ګړندی یې ودرول او فیلو ترې لرې لاړه. هغې له خرطوم څخه هوا ته اوبه وشیندلې، بیا یې له طوطي څخه پوښتنه وکړه: زیړه زرغونه ښکاره شوه؟

ملګرو یې په خپه انداز د نه په دود سرونه وښورول. فیلو بیا ابشار ته په ځیر ځیر وکتل، ښه فکر یې وکړ. لږه شېبه یې کتل، بیا یې چیغه کړه او ویې ویل: پیدا مې کړه، پیدا مې کړه! اوس یې ګورئ چې دا ځل به زما تجربه کامیابه

شي. فیلو همغه شان په ترتیب باندې ملګري ودرول، لکه څنګه چې د ابشار ترتیب و، بیا یې شا ته یوه ونه هم په نښه کړه. ملګرو ته یې وویل: تاسې دې ونې ته ګورئ! ټولو ونې ته کتل او دا لاړه، خرطوم یې له اوبو را ډک کړ او بیا یې تجربه وکړه. دا ځل ټولو ملګرو له خوښۍ چیغې کړې او چکې یې وهلې. ټول راغلل او فیلو یې ښکل کړه.
د فیلو ملګري له یوه لوري خوشحاله وو او له بل لوري حیران، چې څنګه یې دې خبرې ته پام شو.
فیلو ډېره خپه ولاړه وه. طوطي له فیلو څخه پوښتنه وکړه: ولې داسې خپه شوې، تا خو زرغونه جوړه کړه؟
فیلو په خپګان سره ځواب ورکړ: کاش چې مور، پلار، انا او ټولې کورنۍ مې لېدلې وای، چې زه څنګه تر دې ځای پورې راغلم.
بیزو پورته ټوپونه وهل او له فیلو څخه یې وپوښتل: نور نو څه غواړې؟
فیلو وویل: زه نور نه غواړم چې له ما څخه دې فیل جوړ شي. زه همداسې فیله ښه یم. زه ډېره خوشحاله یم چې فیله یم او تاسې غوندې تکړه ملګري لرم.
فیلو خپل خرطوم د اسمان پر لور پورته کړ، چیغه یې کړه: مننه کوم خدایه! چې زه دې فیله پیدا کړې یم. ډېره ډېره مننه.
ماښام و، ټول ملګري ډېر خوشحاله وو او د سیند په غاړه یې لوبې کولې. نږدې یو ځای یې یوه هیلۍ ولیده چې بچې به یې کله د مور تر وزرونو لاندې شول، کله به د مور په ډډه سپاره شول، ډېر خوشحاله وو.
د ټولو ور پام شو. فیلو همداسې ورته کتل. یو ناڅاپه د فیلو له سترګو اوښکې روانې شوې؛ کورنۍ یې وریاده شوه.
بیزو، طوطي او ګړندي هم وژړل. فیلو خپلو ملګرو ته وویل: زه غواړم بېرته مې خپلې کورنۍ ته ولاړه شم، تاسې څنګه؟
ګړندي وویل: زه به همدلته په تمه شم. زموږ ډله درې میاشتې وروسته بېرته



راګرځي؛ نو بيا به زه خپله کورنۍ پيدا کړم.
بيزو، طوطي او فيلو پرېکړه وکړه چې بايد سبا سهار وختي بېرته حرکت وکړي؛ خو بيزو ويل چې اوس به سرکس په کوم ځای کې وي. فيلو ډاډ ورکړ چې د پيدا کولو لپاره به يوه لاره پيدا کړي.
سهار وختي دوی ټول بېرته په خپله مخه حرکت وکړ؛ خو طوطي د فيلو دې قوي حافظې ته حيران و چې بېرته سمه په همغه لاره روانه وه چې دوی پرې راغلي وو.
فيلو او ملګري يې له يو کال وروسته بېرته هغه ښار ته ځانونه ورسول چې ترې تللي و؛ خو سرکس په هغه ښار کې نه و. فيلو ته د پوليسو مرکز ور ياد شو؛ نو لاړه او د پوليسو يو موټر يې په لاره کې پيدا کړ. دا ځل له پوليسو سره د خبرو کولو لپاره طوطي و. طوطي ورغی او پوليسو ته يې وويل: موږ د کاردن نړيوال سرکس غړي يو. موږ په سفر تللي وو، اوس چې راغلو؛ نو زموږ سرکس له دې ځايه کوچېدلی دی. هيله کوم له موږ سره مرسته وکړئ؛ څو له خپلو کورنيو سره يو ځای شو.
پوليسو، فيلو او نور ملګري يې د پوليسو مرکز ته بوتلل. دوی چې هلته ورسېدل؛ نو د پوليسو يو کار کوونکي هغه دوسيه راوړه چې د سرکس کارکوونکو فيلو، طوطي او بيزو د ورکېدو خبر پوليسو ته ورکړی. په دوسيه کې د فيلو، طوطي او بيزو عکسونه لګېدلي وو.
فيلو چې خپل عکس وليد، ډېره ورته حيرانه شوه؛ ځکه چې فيلو په سفر تلله؛ نو څومره وړه وه، اوس څومره غټه شوې ده.
پوليسو دوسيه واړوله راواړوله. په دوسيه کې د سرکس د مرکزي دفتر ټول معلومات موجود وو. څو ورځې تېرې شوې، د سرکس له مرکزي دفتره کسان راغلل، فيلو او ملګري يې سرکس ته بوتلل. کله چې سرکس ته ورسېدل؛ نو سرکس په اروپا کې و.

سرکس ته چې ورسېدل؛ نو د سرکس ټول حیوانات او مرغان په دروازه کې د فیلو او ملګرو ښه راغلاست ته ولاړ وو.
فیلو د سرکس مخ ته ودرېده او طوطي ته یې وویل: طوطي ته د سرکس له مسؤولینو سره خبرې وکړې. زه تیاریم په سرکس کې داسې ننداره وړاندې کړم چې د سرکس له جوړېدو تر نن ورځې چا نه وي وړاندې کړې؛ خو زما یو شرط دی.
طوطي د فیلو خبره د سرکس مسؤولینو ته وکړه. د سرکس مدیر ورته را وړاندې شو، طوطي ته یې وویل: د فیلو شرط څه دی؟
فیلو طوطي ته وویل: اول له نن وروسته به زما د کورنۍ د یوه غړي په پښو کې زنځیر نه اچوئ.
طوطي د سرکس مدیر ته د فیلو خبره وکړه. د سرکس مدیر ورسره ژمنه وکړه چې له دې وروسته به دا کار نه کوي.
د فیلو دویم شرط دا و چې مستاچیو به نور د سرکس حیوانات نه وهي. د فیلو دا شرط هم ومنل شو، له دې څخه وروسته فیلو طوطي ته وویل: داسې یو ځای دې جوړ شي چې زه ماشومانو ته زېړه زرغونه جوړه کړم او ماشومان یې ننداره وکړي. لومړی ټول د سرکس هغې برخې ته لاړل چې د سرکس تجیر ته ترې لمر را لوېدلي و. فیلو خپل خرطوم له اوبو څخه ډک کړ او پوره د لمر وړانګو ته یې اوبه وشیندلې. په هوا کې زېړه زرغونه جوړه شوه.
ټول ډېر حیران او خوشحاله شول. د سرکس مدیر امر وکړ چې له دې وروسته به د فیلو سره منل شوي شرطونه څوک نه ماتوي.
فیلو به تل په سرکس کې ماشومانو ته زېړه زرغونه یا د بوډۍ ټال جوړاوه او ماشومانو به ورته چکې وهلې. له دې سره سرکس ښې ډېرې پیسې ګټلې.
دا کیسه چې څوک لولي، کولای شي چې د بوډۍ ټال جوړ کړي؛ خو افریقا ته د تلو ضرورت ورته نشته. تاسو کولای شئ په خپله کوټه کې یې جوړه کړی. په یوه



پاک شیشه‌یي ګیلاس کې اوبه واچوئ او د لمر وړانګو ته یې ونیسئ. تر ګیلاس لاندې یو سپین کاغذ ونیسئ، وبه وینی چې زېږه زرغونه ښکاري.

راځئ د زېړې زرغونې په اړه لږ معلومات درکړم.

کله چې د لمر وړانګې د باران یا په هوا کې له باران وروسته پر بخار ولګېږي؛ نو د لمر وړانګې له ۴۲ تر ۴۸ پورې منکسرې شي. په دې حالت کې زېږه زرغونه منځ ته راځي.

پای

# د توانا نوې چاپونې



# د توانا لومړی جشنوارې کتابونه






















